April – May 64

علمي اجتماعي او ادبي

غويي (۱۳۴۳) لمرنی کال د (۱۹۶۴) عيسوی کال اپريل اومی

شمير	مضمون	ليکوال	مخ
۱ـ	دمياروښان حالنامه	پوهاند رشتين	۱
۲ـ	پير روښان بايزيد انصاری	دمنوهر سنگهه بتر اترجمه	۸
۳ـ	په روهيل کهنډ کښې	دخان غازی ليکنه	۲۶
۴ـ	اساسی ادبی عوامل	دښاغلی سيفی اخيستنه	۳۵
۵ـ	دتورپيکی واده	سيد احسان الله (هېر)	۴۵

امتياز — د پښتو ټولنی

مشر — پوهاند رشتين

مسئول مدير — محمد صديق روهی

نومیالی پوهان

دهند دسفر له یاددا ښتو نوڅخه

دمیاروښان حالنامه

تراوسه پورې مونږ ته دمیا روښان دحالنامې کومه بله قلمی نسخه معلومه نه وه یوازې په هند کښې دعلیګړ دپوهنتون د کتابخانې د نسخې نوم مواوریدلی ؤخودغه نسخه موهم لیدلی نه وه. تیر کال ژمی زه په دی موفق شوم چه دغه نسخه له نزدې وګورم او یوڅه معلومات ترې لاس ته راولم.

دعلیګړ دپوهنتون دغه نسخه چه تراوسه پورې یې بل کوم څرك نه دی لګیدلی، یوه ډیره قیمتی او غوره نسخه ده. دا نسخه په ښکلی ښایسته نستعلیق خط په توره سیاهی لیکل شوې ده. مخونه یې (۵۲۶) دی. په هر مخ کښې (۱۵) کرښې دی. کاغذ یې څه قدر ډبل او پیړدی. جدولونه یعنی دغاړې خطونه نه لری خو کرښې یې په ذوق او سلیقه برابرې دی.

دانسخه دسر له خوانه کامله ده، ولی چه په بسم الله شروع شوی ده مگر دآخر له خوانه یې یو څو پاڼې کمې معلومیږی.

ددغې نسخې ډیرې زړی پاڼې دعلیگړ دپو هنتون دکتابخانې له خوانه په سپین کاغذ ځلیښت شوی او له خرابیدونه ساتل شوی دی، او نور هم ددغې نسخې د ساتنې دپاره ډیر ښه بند وبس شوی دی.

دکتاب مؤلف:

ددې کتاب په اوله پاڼه داعبارت لیکدی:

(حالنامهٔ میا روښان مشکل آسان از تالیف خلیفه علو خان شنواری.) ولې د کتاب له مقدمې څخه د مؤلف نوم علی محمد کندهاری (۱) معلومیږی. مگر اصله خبره داده چه په اصل کښې حالنامه په خپله میاروښان لیکلی وه، بیا علی محمد کندهاری د دوستانو په غوښتنه دغه نیمگړی نسخه سره له تصحیحه بیا ولیکله او څه نور معلومات یې هم ورباندې زیات کړل لکه چه دمیاروښان د زامنو او نمسو حالات ټول دده له خوانه ورباندې زیات شوی دی.

ددې کتاب له منځه داسې څرگندیږی چه علی محمد که څه هم اصلا ځانته کندهاری وایی خودی دمیاروښان له نمسی (رشیدخان) سره دهند په (رشید اباد) کښې اوسیده او حالنامه یې هلته لیکلې او تصحیح کړی ده. حالنامه په ډیره خوږه او روانه پارسی لیکل شوې ده او س مونږ دلته دحالنامې دمقدمې یوه برخه را اخلو چه دغه پورته مطلب تر ې په ښه شان ښکاره کیږی:

(۱) زما خیال دادی چه دغه علی محمد په خلکو کښې دعلوخان په نامه مشهور ؤ چه په کام شنواری او اصلاً کندهاری ؤ. او دغه دمخه عبارت به هم کوم لیکونکی د کتاب د پاسه لیکلی وی. (دشتین)

« الحمدلله حمداً کثیراً - بعد این فقیر حقیر علی محمد ا بن قندهاری مرید وخادم خاندان بایزید انصاری قدس الله سره العزیز میگوید که بعضی ازمحبان مخلصان که رعایت ومراعات خاطر عاطر ایشان ازجملهٔ لوازمات وواجبات دانسته ، چون ازین فقیر التماس داشتند- که حالنامهٔ پیر دستگیر که ازتدابیر دوران وتسامح ناسخان تغیر وتبدیل بعبارتش راه یافته ، ونیز صحتش بسامت بدل گشته و نیز سوانح وحقایق فرزندان واحوال نبیره گان پیر دستگیر قدس سره ودیگر ازحوالات که بمنصهٔ ظهور جلوه گر آمده- چنانچه شمشیر گرفتن ورفتن ایشان بجانب پشاور و تیراه وکابل وغیره .

ازسوانحات که در انضباط نیامده ازین نسخهٔ شریفه زایل گشته وازطبع ذکی شما که مفتح ابواب معانی مغلقه وکاشف سرایر دفاتر مسدوده است بعید نیست که به تعمق عمیق و به تأنق دقیق تطبیق داده تصحیح نمایند. ارادت وتقاضای ایشان بسمع قبول واصغا نموده، بموقف اجابت مقرون گشت. بامید توفیق حق - وماتوفیقی الا بالله العلی العظیم وهو حسبی ونعم الوکیل -

وآنچه ازکتاب وناقلان معتبر استماع گشته بسمط تحریر ودر نظم تقریر آورده شد- معرا ازسمت سخن پیرایی ومبرا ازتکلیف کلام آرایی درحیز ارقام مرتسم گشت تا بفهم مبتدیان ودرذهن متعلمان صورت معانی روشن ومبرهن نماید .

وبثواب آن این ناقل بهره مند گردد»

له دې نه معلومه شوه چه حالنامه دمخه موجوده وه. خو ناقصه اوخرابه وه نوعلی محمد سره له سمونه بیرته ولیکله اوشه برخی یې نورې ورزیاتې کړې .

د حالنامې په منځ کښې ځینې فارسي اشعار هم راغلي دي چه هغه د «مخلص» په نامه دي . نو کیدای شي چه دغه محمد دې هغه مشهور علي محمد مخلص وي چه د ادبیاتو په تاریخ کښې یې نوم ذکر شوی دی.

دروښان په باره کښې معلومات :

دحالنامې ددغې نسخې په لیدلو زمونږ ګوتو ته دروښان په باره کښې ډیر نوی معلومات لاس ته راغلل چه تراوسه په غلط ډول مونږ ته رارسیدلي وو. دغه معلومات په لاندې ډول ښودل کیږي :

۱ـ دروښان موربی بی (ایمنه) نومیده چه دحاجي ابابکر لوروه حاجي ابابکر په جالند هر کښې اوسیده. دمیاروښان نیکه شیخ محمد له (کاڼي ګرام) څخه دسوداګرۍ دپاره دهند جالندهر ته تګ راتګ کاوه . په دغه تګ راتګ کښې یې له حاجي ابابکر سره ارتباط پیداشو او هغه خپله لور (ایمنه) دده زوی عبدالله ته ورکړه .

ایمنه تر واده کیدو وروسته هم د خپل پلار سره په جالند هر کښې اوسیده او (بایزید) یې له نسه هم دغلته پیداشو .

۲ـ عبدالله بیا په وزیرستان کښې بله ښځه هم وکړه چه (فاطمه) نومیده. دادبایزید میره مورو وه او ددې دلاسه یې ډیر کړاوونه لیدلي دي.

۳ـ دبایزید ښځه چه تراوسه په نورو کتابو کښې د(شمسیه) په نامه راغلې ده او په قوم لودی بلل شوې ده ـ په اصل کښې (شمسو) نومیده او دمیاروښان دخپل سکه تره شیخ خدای دادلوروه .

دشمسو له نسه میاروښان پنځه زامن درلودل :

شیخ عمر، خیرالدین، جلال الدین، کمال الدین، نورالدین.

۴ـ بایزید یوه بله ښځه هم کړې وه چه (توره ادې) نومیده او

یوزوی (دولت) ترې زیږیدلی ؤ. دولت په ټولو کښې کشر اودمیاروښان دمړینې په وخت کښې څوارلس کلن ؤ.

۵- دمیاروښان دمړینې تاریخ په حالنامه کښې (۹۸۰ هـ) کال ښودل شوی دی اودغه ترټولو صحیح تاریخ دی. نور تاریخونه ټول تخمینی اوغلط دی.

حالنامه وایی چه دی په خپل مرګ د سرله دردنه وفات شوی دی کوم وخت چه مړکیده مریدانو ترې پوښتنه وکړه «مونږ ته څه نصحیت کوې؟» ده ورته وویل «ماهر څه په خیرالبیان کښې لیکلی دی.»

دمیاروښان شجره:

په حالنامه کښې دمیاروښان د نسب سلسله په دې ډول راغلی ده چه له نورو سلسلوسره ډیر فرق لری:

«شیخ بایزید، عبدالله، شیخ محمد، شیخ بایزید پرنده، شیخ محمد شیخ سراج الدین، چراغ الدین، مولانا ابراهیم دانشمند، شیخ زاده حمزه، خواجه محمود، شمس الدین، شیخ خلیل، شیخ لقمان، شیخ خداداد، شیخ منصور، شیخ محمد، خواجه زید احمد انصاری، شیخ منصور، شیخ احمد، شیخ زاده، خواجه ایوب انصاری که صاحب الرجل صدر کاینات بود (۱)»

دبایزید ملګری اومریدان:

دبایزید په مریدانو کښې دغه کسان په حالنامه کښې راغلی دی:

ښادی خان، علی شیر، عثمان، محمود. دادرې تنه ورونه وو او مورې (شیرین) نومیده چه داهم دبایزید مریده وه مګر عثمان په آخر کښې ورسره مخالف شو اوخلك به یې ورځنې منع کول.

(۱) - حالنامه (٤) مخ.

نور مریدان یې غزنی ، سیدعلی ، عیسی ، حسین ، ابراهیم نومیدل .
محمد کمال دخواجه اسمعیل وړوکی ورورچه د بایزید دتره زوی ؤ هم دده مریداو خلیفه ؤ .

په میرمنو کښې :

(مبارك ، بارکۍ ، شهربانو ، شیخ زادی ، بارخاتون ، زلیخا ، رحمتۍ) دده مریدانې وې . داټولې یې دتوحید په علم پوه کړې وې اودطریقت لار یې ورښودلې وه .

د ده مخالفین :

له حالنامې څخه معلومیږی چه مولانا ذکریا او شیخ اوریا دده سره ډیر مخالف وو ، ولی چه دده په شهرت کښې ددوی کاروبار او نامه ته ډیر ضرر پیښیده او مریدان ورځنې ګرځیدل .

دغه کسان (دبنو) په سیمه کښې اوسیدل . خو ملك لو دی د ده طرفدار او دده پر خواؤ .

د ځایونو مونه :

په حالنامه کښې د دغو ځایونو مونه را غلی دی چه اوس هم مشهور دی :

دوړ ، شهال ، منتوی ، سنګك توی .

دساز اوریدل :

د بایزید په مجلس کښې سازندګانو دف رباب اوچارتاره وهله او ده به ورته غوږ نیولی ؤ .

دکورنۍ حال :

د بایزید تره شیخ خدای داددهند په (پهره) کښې اوسیده . دغه ښارچه کوم وخت مغلو تا لاکړ نودی جالندرته ولاړ او د بایزید مور

ورسره ډیر کومك وکړ شیخ خدای داد درې لونې درلودی ، نو یوه یې بایزید ته ورکړه. پس له یوه کال نه مغلانو هند له افغانانو ونیو(۱) دغه وخت بایزید پنځه کلن ؤ . دې مور سره یې د خرڅ پیسې نه وې نو خپله ګانه به یې خرڅوله او ګوزاره به یې پرې کوله .

دغه وخت خدای داد دخپل وراره اوور نداری سره کانې ګرام ته روان شو چه هلته د مغلو له ظلم څخه په امن پاتې شی. په (قنوج) کښې چه بایزید د مور کاروان د بابر مغل مخې ته ورغی نو امر یې وکړ چه (افغانانرا بقتل برسانید ومالش را تاراج نمائید) نور ټول یې ووژل خو شیخ خدای دادځان په دې نامه خلاص کړ چه زه انصاری یم . بایزید له خپلې مور او تره سره کانې ګرام ته ورسیدل او هلته پاتې شول. بیا څه موده وروسته دده مور د پلار کره ولاړه، ولې چه میړه یې عبدالله ورسره نه نه ؤ. او بایزید په وزیرستان کښې د میرې مور لاس ته پاتې شو .

خدای داد په دې خبره خپه شو (بنو) ته راغی او هلته د شپې له مخې په خطایی کښې چاوواژه. او د بایزید دغه مهربان تره له منځه ولاړ.

دمغلو سره جنګ:

په حالنامه کښې د مغلو او پیر روښان ترمنځ د پوره جنګ یادونه شوې ده. وایی چه معصوم خان د میرزا حکیم په امر په لومړی ځل د ټوټی په غره کښې له ده سره وجنګید، خو ماتې یې وخوړه.

په دغه ځای باندی پیر روښان (آغاز پور) نوم کښیښود یعنی د مغلو سره د جنګ د شروع کید وځای. بیا روښان تیراته ولاړ او هلته یې هم له مغلو سره ډیر جنګونه وکړل .

(۱)ـ د بابر برغل او د ابراهیم لودی ماتې یاد وی .

د شیخ عمر حال :

شیخ عمر د میا روښان مشر زوی او د هغه په گدی ناست ؤ، حالنامه وایی چه سبز و نومی یو مجذوب چه په قام اورکزی ؤ د شیخ عمر بنه ملگری او انډیوال ؤ.

ده به ډیر بنه رباب غږاوه. یوه شپه یې رباب واهه خپلی بنځې ورته وویل چه ویده شه ناوخته دی. ده ورته ځواب ورکړ. چه دا به څوك کوی یعنی رباب به څوك وهی ؟

وایی چه سبز و مجذوب د خپلی مړینې خبر د مخه خپلی بنځی ته ورکړې ؤ یوه شپه یې غسل وکړ، په پاکو جامو کښې ویده شو او چه بیا سهر خپلې بنځې له خوبه پاڅاوه نو دی د همیشه د پاره د مرگ په خوب ویده شوی و. کله چه شیخ عمر دده په مرگ خبر شو نو ډیر غمجن شو او دده جنازې ته په خپله ورغی.

د شیخ عمر مړینه :

حالنامه وایی چه شیخ عمر دلازاکو په پیسو وواژه. تر ده وروسته مشری جلال الدین ته پاتی شوه.

له بد ه مرغه چه ټوله حالنامه ما تر اخره پوری ونه کتلی شوه او د میا روښان د نورو زامنو حالات رانه پاتې شول.

امید دی چه دغه نیمگړی برخه به په آینده کښی پوره کړی شی.

لنډه دا چه حالنامه د میا روښان او دده د اولادې د پیژندنې د پاره یو ډیر غوره باوری اثر دی او بنایی چه د پښتو ټولنې له خوا نه هر ومرو د دغه کتاب یوه کاپی لاس ته راوړی شی. (رشتین)

له پاکستان ټایمز څخه

دمنو هرسنګه بتر اترجمه

پیر روښان بایزید انصاری

-۲-

بایزید چه کوم تبلیغ کاوه په هغه یې پوره عقیده لرله. او مسلمانانو ته به یې په دې خبره قهر کاوه چه تاسو مذهبی خلق نه یاست او تاسی منافقان یاست او ښه کارونه نه کوئ.

دې خبرې په خانانو او عالمانو کښې نا آرامی پیدا کړه. دوی د بایزید پلار قاضی عبدالله ته ورغلل او هغه ته یی دشکایت په ډول وویل چه ته خپل زوی خلکو ته له دوه مخیز ویلو څخه منع کړه. بایزید خپل پلار ته وویل چه ته زما کارونو ته ګوره او که زه دقرآن او سنت څخه مخالف کار کوم نو ته ما منع کړه. عبدالله ورته وویل چه ته دپټ الهام تبلیغ کوې آیا تاسره په دې شی کوم دلیل شته؟ بایزید ورته دقرآن څخه یو آیت ولوست چه مضمون یې دادی. «تاسو خپل خدای په عذر او عاجزۍ یادوئ که په پټه وی او که په جګ آواز او که سهار وی او که ماښام.» او دې نه وروسته یی د نبی اکرم یو حدیث ولوست چه مضمون یې دادی. «دټولو نه ښه دعا هغه ده چه ورو او په پټه وکړې شی او دټولو نه ښه خوراك هغه دی چه

لوبه ورکه کړی .» ددې خبری په اوریدو عبدالله چپ شو اوولاړ. بایزید به قاضی، ملا اومفتی ته داویل چه تاسی مذهبی فعالیتونه دخپلو مادی ګټو دپاره کوی ء «او هرڅوك چه دینی فعالیتونه دمادی ګټو دپاره کوی هغوی په آخرت کښې هیڅ برخه نه لری (قرآن) - هغه دقرآن نه داآیت ولوست . «که څوك دخدای دقانونو سره سم حکم نه کوی هغه حقیقی منکر دی » (۵-۴۴) هغه خلقوته د خطاب په لړ کښی وویل «هر کله چه تاسو په خپلو کښې د یو بل سره په مبارزو بوخت یاست نو آیا تاسی داحق لری ء چه ځانونو ته مسلمان وو ایاست- آیا تاسی دخدای له دې حکمونو څخه خبر نه یاست چه مومنان ورونه دی اود ورنو په منځ کښې روغه او امن پیدا کوی ء».

نبی اکرم ویلی «چه مسلمان هغه دی چه هغه په خپله خو له او لاسونود بل مسلمان آبرو او عزت وساتی- » خلك دده ددی قوی دلیلونو په مقابل کښې حیران پاتې شول لیکن سره ددی دغو خلکو دخپل مخالفت څخه لاس وانه خیست .

دبایزید شهرت په شاوخوا قبیلو کښې خپور شو-دهغه داعادتو چه دورځې به یې په جماعت کښې پنځه وخته لمونځ کاوه. د قرآن اونورو کتابونو درس به یی ورکاوه اوپاتی وخت به یې په دعا او عبادت کښې تیراوه . خلك په ده رامات شول-دبارکی قبیلې ځینو خلکو دی په خپله مشری ومانه- ملاماودوداوشاعرملاارزانی چه دهندوستان نه راغلی وو له ده څخه لاربښوونه وغوښته- بایزید دخپل کلی نه دباندې ووت اوخلکو ته یې دامن اوخوشحالی پیغام ورکړ-اورك زو، اپریدو اوتیرایانو ده ته دخپلې وفاداری وعده ورکړه- بایزیدسیرین ته ولاړاوپه دغه ځای کښې دخلیلو، مهمندواو داؤدزیوقبیلو خلك

دده پیروان شول-دگګیانو اویوسف زو قبیلو خلکو به هم دده په مجلسونو کښې ګډون کاوه -

د بایزید ددې رسوخ اواثر په مقابل کښې دده رقیبانو ده سره حسد پیدا شو- لیکن دغو خلکو دده په مقابل کښې کوم عملی اقدام ځکه نه شو کولی چه دده په تابعدارانو کښې ډیر پیاوړی او قوی خلك موجود وو،ددې کار په اثر د بایزید رقیبانو دهغه وخت د حکومت د مداخلت غوښتنه وکړه - په دې لړ کښې حبیب بخیل نومی سړی ددوولسو زرو روپوسره د کابل او پیښور حکمران مرزا محمدحکیم ته چه په کابل کښې و،ورغی اوهغه ته یې وویل چه د بایزید خیالات د مذهب نه مخالف دی اوهغه د حکومت په خلاف کارونه کوی-وزیرانو ددی الزامونو تائید وکړ-مرزامحمدحکیم د پیښور د ګورنر جنس خان په ذریعه بایزید راوغوښت - هر کله چه بایزید کابل ته راورسید. نو میرزامحمدحکیم دی د کابل قاضی ته وروسپاره اودایی ورته وویل چه د بایزید خیالات او نظریات معلوم کړی- قاضی ورځخه داپوښتنه وکړه چه خلك وائی چه ته ځان ته مهدی وایې- بایزید ورته په ځواب کښې وویل « زه مهدی نه بلکه یوهادی یم اوهادی هغه څوك دی چه خلکو ته دصداقت دلارې ښودنه کوی » قاضی ورته وویل «ته وائې چه په ما وحی راځی»- بایزید ځواب ورکړ«په ما وحی نه راځی بلکه الهام راته کیږی اودخپلې دې خبری ددلیل د پاره یې د نبی اکرم دا حدیث وړاندې کړ- «الهام هغه روڼاده چه په زړه ګرا کښته کیږی- اوپه دې روڼا کښې انسان دشیانو په حقیقت پوهیدلی شی -» قاضی پوښتنه وکړه «چه ته دمقدس الهام او دشیطانی وسوسې په منځ کښې څنګه فرق کولی شې -» بایزید ورته په ځواب کښې وویل «کوم الهام

چه دقرآن دمقرراتو اوپیغمبر دشریعت داصولو سره سم وی یوازې هغه صحیح الهام دی» قاضی ورڅخه یوه بله پوښتنه وکړه «داعقل تاته چا ښودلی دی»- بایزیدځواب ورکړ- «زمونږ دزده کړې طریقه او یسیه طریقه ده اودرسول الله (ص) دمهربانۍ نه دوکې پاملرنې په ذریعه خدای داعلم ماته را ښلی دی» - د قاضی اوحاضرینو دده په دې خبرو تسلی وشوه اودمعاملې رپوټ یې مرزا حکیم ته وړاندې کړ هرکله چه دبایزید مخالفین په خپله دې د سیسه کښې ناکام شول نوهغوی په ده باندې بله حمله وکړه - اوهغه داچه هغوی وویل چه« دبایزید مریدان پښتانه دی اودوی زمونږ دښمنان دی- له دې کبله ددی سړی په ملك کښې په آزادانه ډول ګرزیدل د ملك داتحاد دپاره خطرناك کاردی - » مرزاحکیم بایزید ته وویل«باید ته په پښتنو کښې ونه اوسیږې-» بایزید ور ته په ځواب کښې وویل «باید زه هرومرو په پښتنو کښې واوسیږم ددې دپاره چه زه ددوی دنیکمرغۍ اولار ښودنې دپاره کارو کړم ځکه چه دوی ناپوه اوبې لارې دی .» په آخر کښې مرزا حکیم دده په خبرو تسلی وشوه او ده ته یې د اعزاز په ډول یواس اویوه چین ورکړل اوهغه ته یې بیرته دتلو اجازت ورکړ- .

هرکله چه بایزید له کابل نه په خیریت سره بیرته ستون شو نو په دې کار ددې دښمنان ډیر پریشانه شول، هغوی دیوی بلې دسیسې په فکر- کښې شول- او هغه داچه دوی غوښتل چه دپیښور دنوی ګورنر معصوم خان په ذریعه دی ووژني . د بایزید دمریدانو څخه یو شخص دی له دی حقیقت څخه خبر کړ او بایزید دمامن زی قبایلو سیمی ته روان شو- بایزید په دی وقت کښې دخپل تبلیغ لمن پراخه کړه- هغه په شا وخواسیمو

کښې خپل خلیفه ګان وټاکل او ددولت خان نومی سړی پهلاس یی خپل صراط التوحید نومی کتاب د اکبر باچا حضور ته ولیږه - اکبر ډیر خوشحال شو او بایزید ته یی یو خو قیمتی تحفې ولیږلې - بایزید خپل یوسف نومی خلیفه په بدخشان کښې مرزا سلیمان ته دیو کوچنی بهرت الطالیبین (Bahrut Talibin) نومی کتاب سره ولیږه - مرزا بایزید ته یواس او یو پوستین د تحفې په ډول ولیږل او دا غوښتنه یی ور څخه وکړه چه زه یو ځل ستا - د لیـد و د پـا ر ه د ر ځـــم - د مغلو د لښکر سره جنګو نه :

د حالنامی د (۴۷۰ مخ) د لیکنو سره سم د توی د قبیلو ډیر خلک د بایزید مریدان وو - دی خلکو خپل پټ روحانی قوت په کار واچاوه او تل به یی د قیامت ورځ په زړه کښې حاضره ګڼله - هغوی د دنیا د کارونو فکر بی فایدې او بی ګټې شی ګاڼه - یوه ورځ یوه قافله د خپلو تجارتی مالونو سره د کابل خواته روانه وه - د غو خلکو چه له پخوا څخه یی په زړونو کښې دغه خیال موجود ؤ وو یل « خلک بی فایدی د دنیا په چارو بوخت شوی دی ، د وی له دی خوانه تجارتی شیان وړی او له کابله اسونه راولی - په دی پرله پسی خوشو کارونو دو ی څنګه خپل ژوندون ضایع کوی » هغوی د دغی قافلی په خلکو حمله وکړه - او د هغو مالونه یې اخوا دې خوا وشیندل او د اسونو د پښو لاندی یی لتاړ کړل - د قافلی خلکو د اګومان و کړ چه پښتنو په هغو حمله کړی ده هغوی د دې تالان په باره کښې په کابل کښې مرزا حکیم ته خبر ورکړ - هغه د حمله کوونکو ته د جزا و ر کو لو د پاره پنځه سو سپاره عسکریان دغه ځای ته ورولیږل - د د ې لښکر مقابله یوازې د پنځلسو کسانو له خوا وشوه چه دغه کسان د خپلو ښځو

او کوچنیانو سره دعسکریانو په لاس بندیان شول ، بایزید مرزا حکیم ته ددی واقعی داسبابو په خصوص کښې پوره توضیحات ولیږل لاکن وزیرانو د بایزید په خلاف خبرې وکړې - مرزا حکیم د پیښور گورنر ته په دې مضمون یوخط ولیکه چه بایزید بندی او مړکړه - هر کله چه بایزید دخپل یو مرید په ذریعه له دې امرونو څخه خبر شو نو دی د مهمند وقبیلی سره کلپانی اوتوی ته لاړ - د پیښور گورنر بایزید ته په دې مضمون یوخط ولیږه چه ما ته د مرزا حکیم امر رارسیدلی دی چه زه تا بندی کړم - د پیښور گورنر ټولی لارې او سرکونه بند کړل د بایزید ملگرو پخه اراده کړی وه چه مونږ به په خپل ټول طاقت سره مقابله کوو - هغوی د بدر دغزا په ځیر (۳۱۳) تنه د جنگ د پاره تیار کړل - او د مغلو لښکرو ته یی ماتی ورکړه - په کوم ځای کښی چه داجنگ وشو دهغه ځای نوم (آغازپور) شو - (حالنامه مخ ۴۸۱)

د بایزید شخصیت او کرکټر

ددې جنگ نه وروسته دقبیلو اومغلی لښکرو ترمنځ په ښکاره ډول جنگونه شروع شول - هر کله چه مرزا سلیمان د بدخشان څخه راغی نو داپریدو قبیلو دده لار ونیوله - څه وخت چه دمغلو لښکرې له پیښور څخه راغلې نو داورك زیو اپریدواو تیرائی قبیلو د هغو په مقابله پیل وکړاو دهغوی ترمنځ ډیرې نښتې وشوې - بایزید ددې شخړو څخه دځان ژغورلو دپاره د افریدوقبیلې ته لاړاوپه دغه ځای کښی په (۹۸۰) هجری کال کښې وفات شو په دغه وقت کښی دده زوی او وارث شیخ عمر دخپلو ملگروپه مرسته د بایزید تابوت واخیست او په غرونو او درو کښې روان شول .

دشیخ عمر مخالفینو ددوی لار ونیوله لاکن هغوی په خپل تگ

کښې بریالی شول اوهغوی د بایزید مړی په بیت پور نو مې ځای کښې د محمد کمال (چه دده لومړی خلیفه و) د قبر په څنګ کښې ښخ کړ - د بستان المذاهب د دې بیان تائید کوی. ملادرویزه چه د بایزید د سختو دښمنانو څخه ؤ دده د مرګ په خصوص کښې جلاخبرې کړی دی - ملا درویزه وایی چه « هر کله چه محسن خان غازی په بایزید حمله وکړه نو بایزید غرونو ته وتښتید - بایزید د لوږی تندی څخه په اشنغر کښې مړشو او په همدغه ځای کښې ښخ کړی شو - د بایزید زوی شیخ عمر د خپلو ملګرو سره د بایزید هډوکی په یو سندوك کښې واچول او هغه یې د دې د پاره ځان سره راوړل چه هر کله دی بیرته ژوندی شی نو ماسره به د ضرورت په وخت کښې مرسته وکړی - یوسف زو دهغه مړی ته اور واچاوه - او دغه منحوس سندوك اړې شو. دهغه دهډوکو څه لږې ډیرې ټوټې چه پاتې شوې وې هغه یې په سیند کښې وغور زولې - د بایزید مریدانو د بایزید زیارت په کاڼی ګرم کښې جوړ کړی دی او په دې کار هغوی خلك تیرباسی - د مخزن الاسلام مخ ۱۵۷ - ۱۵۸).

بایزید یو مذهبی شخص ؤ ، او د خپلو مذهبی مقرراتو او فرایضو په ادا کولو کښې لکه د نورو مسلمانانو ډیر ټینګ و هر کله چه بایزید یو پوه متجسس سړی ؤ نو له دې کبله به یې د دعاګانو او اسلامی مقرراتو د اصلی حقیقت او مطالبو د پوهیدلو د پاره ډیر کوښښونه کول هغه دا کوښښ درلود چه په کوم شی چه مسلمانان عقیده لری باید د هغو په حقیقت هم پوه شی او عمل ور باندې وکړی د بایزید په زړه کښې د خپل پلار او میرې مور د هغه بد سلوك څخه چه ده سره یې په ځلمیتوب کښې کړی ؤ کرکه پیدا شوې وه . او دا هم یو منل

شوی حقیقت دی چه د خپلې مور څخه د جلا کیدلو په اثر ده ته ځان یوازې ښکاریده ـ که څه هم ده د پلارسره علاقه نه درلوده مګر سره ددې به یې هم ده ته تحفې ورلیږلې مګر هر کله چه بایزید د خپل پلار په سوچ وضعیت کښې د مینې کومه ګرمی ونه لیدله نو د پلار سره یې خپل دغه دوستانه وضعیت پرېښود ـ بایزید یو زړور انسان ؤ او چه کوم شی به ورته صحیح ښکاره شو په هغه به یې عمل کاوه په کومو کبر جنو او بی باکو خلکو کښې به یې چه کومه نیمګړتیا او نقص ولید نو په ښکاره ډول به یې ورته ویل ، اودډیرو جابرو حکمرانانو په مخ کښې به یې هم په ډیره زړورتیا او بی پروایی سره خبرې کولې . بایزید یو مجدد او مبلغ سړی ؤ ـ اول ده د بندګی او روحانی مشق په ذریعه خپل شخصیت لوړ کړ او بیا یې کوم شی چه د خلکو دپاره ګټور ولید هغوی ته یې دهغه تبلیغ وکړ . بایزید د خپل شخصیت د لوړتیا دپاره چه کوم خصوصی او شخصی طریقې استعمال کړی دی هغه دده په لیکلو کښې نه دی راغلی .

لاکن دا څرګنده خبره ده چه بایزید دروحانی روڼا د حاصلولو دپاره اسم اعظم یو لومړی او ضروری شی ګاڼه ـ ده ته پیررو ښان ځکه ویل کیږی چه ده خلك د ناپوهی ، دتیارو څخه روڼا ته راوستل دده زامن او لمسی ټول ښه خلك وو ـ له دوی څخه ځینی دد ښمنانو د لاسه ووژل شول ، او ځینی د سیاسی فشار په مقابل کښې ټیټ شول او د پاشاه او د ربار سره یې همکاری وکړې او په سلطنت کښې یې منصبونه قبول کړل .

د بایزید فلسفه او تعلیم :

د بایزید عقیده تقریباً دنورو مسلمانانو غوندې ده چه په سنت

او اسلام یې لرله - بایزید به تل په خپلو مجلسونو کښې د قرآن او حدیث په مطلبونو حوالې ور کولې. او هغه په خپلو څلورو کتابونو کښې خپله عقیده په مفصل ډول بیان کړې ده، او هغه څلور کتابونه دادی: حالنامه، صراط التوحید، خیر البیان او مقصود المؤمنین هغه په دې خبره عقیده لرله چه دهر عبادت مقصد خدای ته رسیدل دی او همدې شی ته هغه علم التوحید وایي. دخدای دوحدت دعلم د حاصلولو دپاره د یو کامل پیر لار ښودنه ډیر ضروري کار دی د خپلې دې مدعا د اثبات دپاره به هغه دا حدیث وړاندې کاوه - «انسان که په سوریا، ایران یا چین کښې دی دهغه دپاره داخبره لازمه ده چه هغه دیو مناسب لارښوونکی لټه وکړي - (صراط التوحید مخ ۴۷) «څوك چه لارښوونکی نه لري هغه هیڅ عقیده نه لري صحیح لارښوونکی هغه دی چه خلك د خدای لوري ته بیایي او هغوی د مادي بندونو څخه خلاسوي - په یو قوم کښې یو شیخ په یو لوی قوم کښې دیو پیغمبر حیثیت لري» (صراط التوحید مخ ۶۵) -

مونږ په صحیح ډول دا فیصله نه شو کولی چه دا پورته خبرې حقیقتاً د پیغمبر خبرې دی لاکن بایزید په دې خبرو پخه عقیده لرله. او په دې حدیثونو د بایزیدنه پخوانو صوفیانو هم ډیرې حوالې ورکړې دی. بایزید شیخ ته دومره اهمیت ورکوی چه وایي - د شیخ تابعداری عیناً د پیغمبر تابعداری ده (مقصود المؤمنین مخ ۴۹) - د بایزید په عقیده رښتینی شیخ هغه دی چه خپل مریدان دریاضت د دورې نه وروسته ورو ورو د خدای د وحدت وروستی پړاو ته ورسوی. دهغه په فکر دا درجې خدای ته درسیدلو پوړې دی: شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکنت د مذهبي پوهانو

د تاکلو قوانینو د پیروۍ نوم شریعت دی . دطریقت مطلب دمادی هوسونو مغلوبول او خپل ځان د فرشتو په شان په عبادت مصروف کول دی . دحقیقت مطلب بی د خدای څخه د نوروخیالونو دزړه څخه ویستل او یوازې د خدای د ذات او دهغه دجمال فکر کول دی د معرفت مطلب د خدای موجودیت ته په زړه کښی ځای ورکول او ددلیل په رڼا کښی د خدای موندل دی .

دقربت مطلب په کائناتو کښې د خدایی نغمو اوریدل او په هغو ځان پوهول دی دوحدت مطلب خپل ځان له هرشی څخه جلا ساتل او په هره معامله کښې یوازې د خدای څخه مرسته غوښتل دی د توحید مطلب ځان د خدای په ذات کښې ورکول او دخپل تعریف نه ځان ژغورل دی دپورته اتو منزلونو څخه څلور یعنی شریعت ، طریقت ، حقیقت او معرفت په صوفیانو کښی عمومیت لری۔ اوپاتې څلور یعنی قربت ، وصلت ،وحدت او سکنت که څه هم په ظاهر کښی نوی نو مونه لری لاکن په حقیقت کښې دا منزلونه د فنا او بقا څخه جلا شیان نه دی .

بایزید وایی چه زه ددې منزلونو وروستی جګې پوړۍ ته رسیدلی یم او هرې خواته چه ګورم نو بې د خدای نه بل شی نه وینم ـ ماته بی د هغه د ذات څخه بل هیڅ شی نه ښکاری او نه زه بی د هغه د عظمت د نغمو څخه بل کوم شی اوریدلی شم (دصراط التوحید مخ ۱۰)

د بایزید دتعلیمونو لنډیز

هر کله چه بایزید خپل ځان په دغه راز لوړ مقام کښې ولید نو هغه نورو خلکو ته داسې وویل «هر څوك چه ماته راشی او زما د نګرانۍ لاندې روحانی ریاضتونه وکړی، اودقران کریم په اصولو

عمل وکړی او د رسول د حدیثونو او د ولیانو او صوفیانو او درسیدلو خلکو د ویناګانو پیروی وکړی ، نو هغه به دخدای په فضل دتوحید لوړ مقام ته ور سیږی او د خدای یو سپیڅلی بنده به ور څخه جوړ شی (صراط مخ ۲۴)

بایزید دخپلو تعلیمونو خلاصه اولنډیز داسی بیانوی :

دمریدانو دپاره اول دا خبره لازمه ده چه دټولو غیر قانونی شیانو څخه ځان وژغوری او هغوی باید لږو خوری ، لږو چښی او بی ځایه مصارف ونه کړی . لږ خبرې وکړې اوله بدو خبرو او بنکنځلو څخه ځان وساتی - اوپه شپه کښې خدای یاد کړی . او که مرید ته خوب ورشی نوهغه دې په اړخ باندې پریوزی اوچه یو پار شپه پاتې شی نوپا دې څی او اودس دې وکړی . دخدای په شکرانه کښې دې دوه رکعته لمونځ دې وکړې . اوخپل لار ښونکی ته دې مخ کړی دهغه خیال او تصور دې په زړه کښې راولې اوچه سهار شی نو پهډیر خلوص دې لمونځ وکړې . اوتل دې دښو خلکو ملګری اوسی . اودبدو اوبی باکو خلکو څخه دې ډډه وکړی په پټ ډول دې تل ځان دخدای په عبادت کښی مصروف ساتی او تر څو چه دتوحید حقیقی منزل ته نه وی رسیدلی ترهغې دې آرام نه کوی .

داپورته خبرې دبایزید دتعلیمونو اوفلسفی حقیقی تصویر دی داخرګنده خبره ده چه بایزید ډیرې مطالعی وکړې اوپه ډیرو شیانو یې ځان پوه کړ اودخپل شخصیت دلوړتیا اوتکمیل دپاره یې ډیر زیارونه وکښل . سره ددې ټولو خبرو هغه د خدائی مرستې یادونه هم کوی . بایزید وایی چه ماپه خوب کښی خواجه خضر ولید یامې دهاتف غیبې اواز واورید اویاماته پټ الهام وشو .

د بایزید مخالفت .....

د بایزید په عصر کښی دده لوی دښمن اخند درویزه ؤ چه هغه به دخپل استاذ سید علی ترمذی سره د بایزید سره بحثونه او مناظرې کولې اخند درویزه یو متعصب ملاؤ اوهغه د اسلامی روایاتو او قوانینو په التزامی او ظاهری معناګانو پسې روان ؤ او که چا به ددغو اسلامی مقرارتو دروایتی معناګانو څخه لږه بی پروایی هم وکړه نود اخند درویزه په خیال کښی به دغه یو نوی شی ښکاریده او دغه شی به هغه د خدای څخه د انکار علامه ګڼله. اخند درویزه هغه سړی دی چه ده د بایزید د پیررو ښان لقب په پیر تاریك بدل کړ هغه چه کوم کتابونه لیکلی دی په هغو کښې یې بایزید ته دخدای نه منکر او غیر مذهبی شخص ویلی دی او هغه کتابونه دا دی: تذکرة الابرار والاشرار او مخزن الاسلام. اخند درویزه خپلو مریدانو ته هدایت ورکړ چه په هر ځای کښې چه د بایزید لیکنې په لاس درشی هغه سیزی ء (مخزن مخ ۱۵۸)

دچا په زړه کښی چه دومره تعصب موجود وی باید دهغه د بیانونو او خبرو په منلو کښی دډیر احتیاط څخه کار واخیستل شی دډیرې خواشینۍ وړ خبره داده چه هر کله اخوند درویزه په بایزید څه الزامونه لګولی دی نو په یو ځای کښی یې هم د بایزید په لیکنو څه حواله نه ده ورکړی. راځی ء چه مونږ داخوند درویزه هغه الزامونه چه په بایزید یې لګولی دی هغه په خپله د بایزید د تحریرونو په رڼا کښې وګورو. درویزه وایی:

۱- بایزید دا عقیده لرله چه دیو انسان روح دهغه دمرګ نه وروسته په بل جسم کښی بیرته اچول کیږی (تذکره مخ ۱۳۷)

اوداخر گنده خبر ده چه دا الزام غلط دی ـ ځکه څوک چه په قرآن او سنت پخه عقیده لری هغه هیڅکله در وح د تناسخ سلسله نه شی منلی .

۲ـ بایزید هرمو جود شی اوژو ندی مخلو ق ته خدای وائی (تذکره مخ ۱۳۹) ـ (مخزن مخ ۱۵۵) دا الزام په بایزید د یوې غلط فهمی په اساس لگول شوی دی ـ بایزید په خپله وایی: «ټول مخلوق ، د کائناتو ټول ذرات اوزه په خپله د خدای څخه جلا کوم بل شی نه یو» (سیرت مخ ۱۰)

۳ـ بایزید دا دعوه کوی چه زه خدای او رسول یم ـ ملا درویزه وایی چه بایزید دا لاندې الفاظ په خپله گوته کښې لیکلی وو

«مقوس د قدرت خاوند دی او پاك دی چه هغه در وڼا نړۍ داور د نړۍ څخه جلا کړه . بایزید انصاری»

د دې الفاظو نه یوازې یو متعصب انسان په بایزید الزام لگولی شی چه هغه د خدایۍ دعوه کړی ده ـ په هغه وخت کښی دې رواج عمومیت درلود چه هرچا به په خپله گوته کښې یا یو بیت ، یا یو آیت او یا یو متل لیکه او د هغې سره به یې خپل نوم لیکه په دې الفاظو کښی بې د خدای د عظمت او خصو صیو تو نو څخه بل هیڅ شی نشته او دې نه لاندی د بایزید نوم لیکل شوی دی .

په یو بل مهر کښی بایزید دا الفاظ لیکلی وو

«بایزید مسکین هادی [illegible]»

درویزه د دې لفظو نو څخه دا مطلب واخیست چه بایزید ځان ته پیغمبر وایی ـ حال دا چه د دې لفظو نو اصلی مطلب دا دی «بایزید ـ غریب . د هغو خلکو لارښوونکی چه بی لارې شوی وو ـ» کټ مټ همدا خبره په خپله د ملا درویزه تعریف هم کیدلی شی ځکه چه ده هم د بی لارې

خلکو په صحیح لارته راوستلو دپاره کار کاوه۔ پیغمبر هم همدا کار کوی لاکن هغوی ته د خدای له خوا الهام کیږی ۔ بایزید دخپل مقصود المؤمنین نومی کتاب په مقدمه کښې خپل ځان د حضرت محمد ترڅولو کوچنی۔حقیر او کمزوری تابعدار معرفی کړی دی۔ نو داسې شخص به څنګه دخپل ځان دپاره دپیغمبری دعوه وکړی ۔ دا الزام بیخی درواغ دی ۔

۴۔ بایزید خلك دشرعی احکامو دمنلو نه منع کول یعنی دروژې نیولو، لمونځ کولو، حج کولو، زکوة ورکولو اونور وشخه۔ بایزید خلکو ته ددې خبرې اجازه ورکړه چه هغوی قتلونه وکړی، دخلکو مالونه تالاکړی، زناوکړی، شراب وچښی، ږیری وخریی، اوتیرو پیغمبرانو ته ښکنځلې وکړی۔(تذکره مخ۱۴۶)۔ دا بیخې دروغ الزامونه دی۔او دا ځکه چه که هغه پښتنو ته داخبرې کړی وای نو هغوی به بایزید فی الحال وژلی وای۔دبایزیدله لیکنو څخه دا حقیقت په پوره ډول څرګندیږی چه هغه خلکو ته په ډیرټینګار دا ضرورت ښودلی دی چه هغوی دمذهبی مقرراتو او اصولو پیروی وکړی ۔

۵۔ بایزید دملا سلیمان سره وکتل اوملاسلیمان دخدای څخه منکر شخص ؤاوهغه دبایزیدعقیده بیخی خرابه کړه۔ اوبایزید بیخی دخدای نه منکراو بیګانه شو(مخزن مخ ۱۵۳)

مولانا عبد القدوس په خپله هغه مقاله کښی چه د پښتو دری میاشتنی مجلې دوهم ټوك دوهم لمبر کښی خپره شوی ده دې خبری کو ښښ کړی دی چه د نومړی ملا سلیمان په باره کښی احوال ولیکی ۔ په دغه مقاله کښی ده ملا سلیمان ، سلیمان بن حسن هندی ښه دلې دی چه د اسماعیلی فرقې مبلغ ؤ

اوده پیروانو ته سلیمانیان ویل کیږی . که داخوند درویزه په زړه کښی ددی سلیمان په باره کښی څه فکر وای نوده به د خپلې عقیدی تبلیغ کړی وای لاکن د بایزید او د هغو اسماعیلیانو په لیکنو کښی هیڅ کوم مناسبت نه لیدل کیږی د اسماعیلیانو اساسی عقیده تأویل دی هغوی د قرآن ایتونه فقط دیوې نښې او علامې په ډول ګڼی او یو غیبی پټه معنی ورسره تړی او بایزید چه د قرآن د آیتونو څخه کوم مطلب اخلی هغه بیخی څرګند او ښکاره دی او نه په هغی کښی کوم غیبی او پټ شی وی او نه کومه بله معنی لری . د اسماعیلی فرقې یوه بله غټه خبره داده چه هغوی دامام تابعداری کوی .

د بایزید په خصوص کښی شاید چاداخیال کړی وی چه بایزید اسماعیلی عقیده قبوله کړی وه ځکه چه دده په پیر کامل اومرشد کښی داسماعیلی امام ځینی صفات موجود وو لاکن د اسماعیلیانو په امام او د صوفیانو په پیر کښی ډیر زیات فرق او توپیر شته دی

۶- سربیره په ملا درویزه ځینو نورو مصنفانو هم بایزید بلوسری معرفی کړی دی د (دبستان مذاهب) نومی کتاب مصنف لیکی (مخ ۳۰۸) چه بایزید په دخپلو زامنو سره یوځای لاړی نیولی او مسافر به یې شکول دغه مصنف لیکی چه ده به له دغه مال څخه پنځمه برخه خپل بیت المال ته ورکوله او پاتې پیسی به یې په نورو مستحقو خلکو یعنی غریبانو وېشلې په اسلام کښی داړې او شکونې بیخی منع دی او د بایزید غوندی یو معیاری مسلمان داسی کارونه بیخی نه شو کولی او داخبره امکان لری چه د مغلو دلښکرو سره دې دده د مریدانو جنګونه شوی وی او په دغو جنګونو کښی دې د دواړو خواوو نه مړی اوژوبلی شوی وی او په دې لړ کښی تالانونه اوولجې شوی وی او ۸ په

جنګ کښې دولجو او غنیمت اخستل روادی .

دایشیائی پلټنو Asiatic Rese aerches ګڼه ۱۱ مخ ۳۶۳ کښې لائیډن Lyden دمخزن الاسلام او دبستان مذاهب دځینو برخو د ترجمې نه وروسته لیکی چه بایزید ټیټ سړی و په دغه لیکنه کښې بایزید د اسماعیلی عقیدی پیروښودل شوی او دده ډیره غندنه شوی ده . دلایډن نه وروسته الفنسټون Elphinstone د بایزید په خصوص کښې ډیری سپوري او سپکی خبرې لیکلی دی (د کابل سلطنت احوال An accunt of the Kingdon of Cabul ګڼه ۱ مخونه ۲۷۴-۲۷۶

میجر ایچ- جی- راورټی د الفنسټون په حواله وایی چه بایزید د جوګیانو اصول منلی او د تناسخ دعقیدی پیرو شوی و او په دې اصولو بایزید ځینی خپل نور اصول ور زیات کړی وو او په هغو کښې د ټولونه ډیره دپاملرنی وړ خبره داده چه دمقدسو اشخاصو په ذات کښې د خدای ذات موجود دی (دافغانانو د اشعارو څخه انتخابات Selctions From The Poetry of The Afghans مخ ۵۲)

سر الف کیرو Sir Olaf Caroe د پټان نومی کتاب مصنف دراورټی د نظریاتو د تائید په لړ کښې داسی لیکی چه د بایزید ملګرو خپل ځان نه داحق ورکړی و چه څوک چه دنوی علم خاوندان نه وی هغه تباه او برباد کړی او دهغو جائدادونه او مالونه غصب کړی او په دی خبرو په قبیلو کښې دده دسیاسی مرستیالانو حوصلې ډیرې لوړې شوې وې سر الف سر بیره په دغو خبرو داهم وایی چه د بایزید اصول د Kharjite خارجیتې نومې عقیدې بیرته ژوندی کول وو (مخ ۲۰۱-۲۰۲)

۸ - عبدالقادر بدایونی د خپل منتخب په ۲۵۶ مخ کښې په دغو

افواهاتو یقین کړی او بایزید یې په بدو کارونو یو مشهور او د خدای نه منکر شخص معرفي کړی دی. فرشته دخپل تاریخ فرشته نومی کتاب په ګڼه ۱ - ۲ مخ ۲٦٦ کښې لیکې چه بایزید یو هندوستانې سړی اوخپل ځان ته یې د پیر روښان لقب ور کړی ؤ. هغه پښتنو ته ورغی اوهغوی یې خپل مریدان کړل - که دا پور ته خبر ې د بایزید داصلی عقیدو او تعلیمو نوسره مقائسه کړی شی نو په څرګند ډول به ور څخه دا نتیجه واخستلی شی چه دغو ټولو مصنفانو او لیکونکو له بایزید سره ډیره بی انصافی کړی ده.

د بایزید دعصر لیکونکی شیخ فرید بخاری په خپل ذخیرة الخوانینین Zakiratul Khwaninin نومی کتاب مخ ۲۵ کښی د بایزید ډیره ستاینه کړی او دهغه لیکنې یې ډیرې ستایلې دی دی لیکی چه بایزید ډیر جاذب شخصیت خاوند ؤ. چاچه به ده سره رابطه پیدا کړه هغه به دده مرید شو - هغه دقرآن اوسنت تبلیغونه کول - دده دکرامتونو د لید لو په اثر پاك زړی پښتانه په ده راټول شول - بایزید هغو ته دا حکم ور کړ چه کوم شی جایز او روا وی دهغه پیروی وکړی او دناجایزو او ناروا او شیانو څخه ځان وژغوری - هغه دخپل مرګ له ور وسته په خپل ځای سپیڅلی خلیفه ګان پرېښودل اوهغوی داسلام ستنو او ارکانو په حیث خلك په رښتینې اوسمه لارروان کول » -

دخان غازی لیکنه

له ډیلی څخه

په روهیل کهنډ کښی

د پښتو د علم او ادب مرکز رامپور

دځمکی کومه برخه چه نن د پښتو نسان په نامه یاد یږی، په یو وخت او زمانه کښی یې د (روه) په نامه شهرت درلود او هر که چه به ددې ځمکی او برخی اوسیدونکی هندوستان ته راغلل نو نور و هندوستانیانو به

هغوی ته (روهیلا) ویل او یا په بل عبارت دغه پښتو نه به یې د (روهیلا) په نامه یادول.

هر کله چه پښتنود هند په زړه کښې (یعنی په هغه مځکه کښې چه دمراد آباد او بریلی او نور لوی لوی ایالتونه هم ددې خاوری برخی دی) خپل مستقل حکومت جوړ کړ نو ددغه کار په نتیجه کښې دهند دخاوری دغی برخی دروهیل کهنډ په نامه شهرت وموند، لکه څنګه چه دبند هیلیا نو علاقې ته بند یهلکهنډ ویل کیږی. هر کله چه دحافظ الملك حافظ رحمت خان اوددهدزړ ورزوی نواب عنایت خان او نواب نجیب الدوله، نواب علی محمد خان او نواب روندی خان(۱) د حکومت په دوره کښې دروهیلیا نو اقتدار خپل انتهایی عروج ته رسید لی ؤ نو د روهیلکهنډ دخلکو یعنی پښتنو شجاعت او مېړانې په هند کښې دومره شهرت وموند چه دډیلی مغل بادشاه هم دخپلی سلامتی راز دروهیلیا نو په دوستی پورې مربوط ګاڼه، د پښتنود حکومت په دغه دوره کښې روهیلکهنډ د پښتو دعلم او ادب مهم مرکز ګرځید لی ؤ؛ لکه چه د پښتو دلوی مشر خوشحال خان خټک کړوسی کاظم خان شیدا هم دهند دخاوری په دغه برخه کښې د پښتو دشعر او ادب دپاره خدمت کاوه او حافظ الملك حافظ رحمت خان اودده زامنو هم په دغه خاوره کښې بې شمېره علمی او ادبی او سیاسی کتابونه تصنیف او تالیف کړل، که څه هم دزمانې انقلابونو د پښتو دعلم او شعر او ادب ډېر قیمتی آثار محوه کړی دی مګر سره ددې نن هم درامپور په کتابخانه کښې د پښتو ژبې ډېر قیمتی آثار موجود دی چه دغه قیمتی آثار ما او

(۱) دا نوم په اصل کښې زوندی خان ؤ چه هندیانو مسخ کړی او روندی خان ئې ورڅخه جوړ کړی دی.

ښاغلی صدیق الله رښتین ۱۹۶۴ع دجنوری په (۱۷-او۱۸) نیټه درامپور په کتابخانه کښې په خپلو سترګو ولیدل او استفاده مو ور څخه وکړه په دې ځای کښې باید دا خبره په نظر کښې ونیولای شی چه درامپور نه وړاندی دروهیلیانو مرکزونه « آنوله او بریلی » او نورو او رامپور دروهیلیانو وروستی مرکز دی .

در امپور درضانو می کتابخانې لنډ تاریخ :

درامپور رضائیه نومی کتابخانه د هندوستان اوډېر ومشهور و کتابخانو څخه یوه کتابخانه ګڼل کېږی او په دې کتابخانه کښې دپښتو ډېر علمی او دشعر او ادب ډېر نادر او قیمتی قلمی کتابونه په ډېر ښه شان محفوظ ساتلی شوی دی وایی چه په دې کتابخانه کښی دټولو چاپ شو و او قلمی کتابونو شمېر دوو لکو ته رسېږی چه په دې کتابونو کښی شل زره دعربی اوفارسی ژبی قیمتی او تاریخی قلمی کتابونه دی، ددې کتابخانې بنسټ په ۱۸۹۴ع کال کښې نواب فیض الله خان ایښو ولی ؤ، په ۱۸۴۰ع کال یعنی دنواب محمدسعید خان په دوره کښی دې کتابخانې ډېره ترقی وکړه او په دغه وخت کښې دا کتاب خانه د (کتب خانهٔ دار الریاست رامپور) په نامه یاد پدله .

دنواب کلب علیخان په عهد کښې ددې کتابخانې دچاپی او قلمی کتابونو لومړی فهرست دهندوستان دمشهور عالم او پیاوړی شاعر حضرت منشی امیر احمد امیر مینائی له خوا ترتیب کړای شو له دې نه وروسته دنواب حامدعلی خان دحکومت په دوره کښې چه له سنه ۱۸۸۹ع څخه تر سنه ۱۹۳۰ع پورې یې دوام در لود دعربی کتابونو لومړی فهرست دحضرت مسیح الملک حکیم اجمل خان د نګرانۍ لاندی خپور

کړی شو او ددې فهرست دوهم ټوک دحافظ احمد علی خان شوق رامپوری دنګرانی لاندی په سنه ۱۹۲۸ کښی خپور کړی شو.

هر کله چه په سنه ۱۹۳۰ ع کال کښې نواب رضا علی خان په تخت کښېناست نو دده دحکم سره سم د کتاب خانې نوی فهرست ترتیب کړای شو، دسنه ۱۹۳۰ ع کال پوری په دې کتابخانه کښی دقلمی کتابونو شمېر (۹۰۵۲) ؤچه دنو موړی نواب د حکومت په دوره کښی دغه شمېر (۱۴) زروته ورسېدا اوس (۶۰) زره دی په ابتدا کښی دا کتابخانه یوه معمولی کتابخانه وه او د ریاست دتوشه خانې یوه برخه وه چه د (کتابخانه دارالریاست) په نامه مشهوره وه

دنواب رضا علی خان دحکومت په دوره کښی دا کتابخانه د «کتابخانهٔ رضائیه» په نامه ونومولای شوه اودهند د آزادی نه وروسته نوموړی نواب دغه کتابخانه دقام اوملت په نوم وقف کړه چه دغه کتابخانه اوس دخپل پخوانی معمولی ځای څخه دنواب حامد علیخان ډېر عالی اوشاندار محل ته وړلې شوې ده، ددې کتابخانې انتظام اوس یوې ادارې ته سپارلی شوی دی چه ددې ادارې په غړو کښی دهند د حکومت د «پخوانو آثارو» آثار قدیمه لوی مدیر اودیوپی دصوبائی حکومت دانلو یالوجی مدیر او درامپور کلکټر او نواب رضا غلی خان شامل دی ددې کتابخانې ټول مصارف دیوپی دحکومت په غاړه دی

اوس درضائیه نومی کتاب خانې اعلی مهتمم جناب مولانا امتیاز علیخان عرشی عمرخیل پښتون دی، دی په شرقی اونویو علمونو کښی دلوی لاس خاوند اودډېر ونبو اخلاقو څښتن دی اودهند د حکومت څخه ورته امتیازی معاش هم ورکړی شوی دی، ده (اردو میں افغانوں کا حصه) نومی یو کتاب هم لیکلی دی چه ددې کتاب یوه نسخه نوموړی

پښتو «پروفیسر صدیق الله رښتین» ته هم ور کړی ده چه دغه کتاب به ډېر ژر په پښتو ژبه ترجمه اوشي کابل دا فغان اکاډیمی له خوا به خپور کړای شي .

د روهیل کهنډ د بانیا نو مزار ونه :

پروفیسر صدیق الله خان رښتین اوزه یعنی خان غازی کابلی دیوې ورځې د پاره بریلی ته ولاړو د بریلی نومی ښار نه د باندی موږ د باقر گنج نومی ځای په نړېدلو ځایو نو او کنډرو کښی د روهیل کهنډ بانی حافظ الملک رحمت خان شهید اودهغه زړور زوی نواب عنایت خان په ابدی خوب بیده ولیدل، د حافظ رحمت خان هدیره دده لور ودانه کړې ده چه دغه ودانی د تعمیر دفن یوه ښکلې نمونه ده مگر چه څوک غم خورنه لری نو ددې هدیرې د احاطې په دېوال کښی چا ودونه پیدا شوی دی او که پاملرنه ورته ونه شی نو ددې خبری وېره شته چه دغه ودانی بیخی ور انه شی ددې قبر په شنخته یعنی خازه په فارسی ژبه ډېر تار یخونه لیکل شوی دی او په پښتو ژبه دده د وفات تاریخ اسی لیکل شوی دی (خانه دلی راشه) نواب عنایت خان د حافظ رحمت خان یو داسی

۱۱۷۸

زړور زوی ؤ چه په یو وخت کښی به دده په زړور تیا احمد شا بابا افغان کاوه او دده زړور تیا به ئې ستایله مگر نن ددې سر تېر اوز ړور پښتون په قبر نه کوم گومبت شته او نه ور باندی کوم دېوال راگرځېدلی دی دغه قبر بېرودنو لاندی په یو خوشی وران ځا کښی پروت دی چه دغه ځای د عنایت خان په باغچه هم یاد ېږی ، په دغه قبر چه کوم عبارت لیکل شوی دی هغه په ډېره سختی سره ولو ستلا شو، قبر هم په ډېر وران حالت کښی دی او که دا حالت نور هم دوام وکړی نو په دې خبره

کښې شک نشته چه ددې قبر دا اوسنۍ نخښې نښانې به هم د منځ نه ولاړې شي دقبر نه گرچا پېره جولاګانو تنستې ایښوولی دی او ددریو «سطر نیجو» په او بدلو بوخت دی، حافظ رحمت خان او نواب عنایت خان چه دا دواړه پښتانه دروهیل کهنډ بانیان یعنی مؤسسان او جوړوونکی بلل کېږی دد واړو قبرونه دفارسی ددې شعر مصداق دی .

برمزار ما غریبان نی چراغ نی گلی
نه پر پروانه سوزد، نی صدائی بلبلی

دعلی گډه مسلم یونیورسټی په کتابخانه کښې :

دجنوری په (۱۹) نېټه) سهار وحنی پروفیسر صدیق الله خان رښتین اوزه (خان غازی کابلی) درامپور نه علی گډه ته روان شو او د «بس» په ذریعه چندولی ته ورسېدو . په دې ځای کښې مو د حافظ محمد نومی یو پښتون سره ملاقات و شو چه د دغه ځای په یو مسجد کښې ملا امام دی مونږ له دې ځای څخه په (۲) بجو علی گډه ته د تگ د پاره په ریل کښې سپاره شو و او ماښام علی گډه ته ورسېدو شپه مو په «جنتا هوټل» کښې تېره کړه او دجون په شلمه سهار په یونیورسټی کښې د پوهنتون له رئیس سره د ملاقات نه وروسته کتابخانې ته ورغلو دا کتابخانه په ابتداء کښې د علی گډه د کالج د بانی او مؤسس سر سید احمد خان شخصی کتابخانه وه او دده دوفات نه وروسته دا کتابخانه دغه کالج ته وسپارلای شوه .

د پښتنو په لړ کښې دا خبره معلومه شوه چه دعلی گډه مشهورو پوهانو خپل کتابونه دې کتابخانې ته ورکړی دی او په دې ترتیب دې کتابخانې دومره ترقی وکړه او د کتابونو شمېر یې نن له (۲۵) زرو کتابونو څخه ډېر دی چه په دې شمېر کښې داردو او

انګریزی او فارسی او عربی او پښتو قلمی کتابونه هم شامل دی .

پروفیسر رښتین ته دمشهور پښتون مجاهد پیر روښان د حال نامې هغه قلمی نسخه چه د پیر روښان حالات پکښې لیکلی شوی دی په لاس ورغله دغه حال نامه په (۵۰۰) مخونو کښې په فلس کیب سایز لیکل شوی ده رښتین صاحب ددې کتاب خانې د بندولو تر وخته پورې ددغه کتاب په مطالعه بوخت ؤ او خان غازی کابلی په دغه فرصت کښې درحمان بابا ددیوان د دوو قلمی نسخو په مطالعه بوخت ؤ . په دې دوو قلمی نسخو کښې چه کوم فرق ؤ هغه دا ؤ چه یوه نسخه د نواب مصطفی خان « شیفته » له ذخیرې څخه دې کتابخانې ته ور کړای شوې وه ، نواب مصطفی خان د بنګښو دقبیلې یو پیاوړی مشهور پښتون ؤ ؛ دده دپلار نوم عظیم الدوله سرفراز الملك نواب محمد مرتضی خان بهادر بنګښ ؤ ـ نواب مصطفی خان په فارسی کښې « حسرتی » او په اردو کښې « شیفته » تخلص درلود .

دی په اردو کښې د حکیم مومن خان « مومن » شاګرد ؤ دده داستاد مشهور شعر دادی :

عمر ساری توګئی عشق بتان میں مؤمن

آخری وقت میں کیا خاك مسلمان هونګی

او د نواب مصطفی خان خپل مشهور شعر دادی :

شاید اسی کا نام محبت هی شیفته

اك آګ سی هی سینی کی اندر لګی هوئی

درحمان بابا هغه پښتو دیوان چه دده د کتابونو د ذخیرې څخه

دې کتابخانې ته ورکړای شوی دی ۱۸۶ مخونه لری اوپاڼې ئې ډېرې ورستې شوی دی .

ددې دیوان په آخر کښې دپښتو داشعرونه لیکل شوی دی اوله دې شعرونو څخه معلومېږی چه ددې قلمی نسخې عمر (۱۰۴) کلونه دی دپښتو اشعار دا دی .

ته په هند کښې ګرځنده شوې
په امید د خپل نصیب پکښې بنده شوې
چه دهجری سن ترزر دوه سوه اتیا کاله
الحمد لله چه پر زلفو نویسنده شوې

زه ظاهرالدین بې لذته خو به قلم . . . . . .

پنځمه مصرع دظاهرالدین نومی کاتب دنوم غمازی کوی اوددې شعرونو شپږمه مصرع نه لوستلای کېږی په هرحال دا کتاب په ۱۲۸۰ هجری کال کښې لیکل شوی دی .

درحمان بابا بل قلمی دیوان دسرشاه سلیمان دکتابونو دذخیرې څخه دعلی ګډه کتابخانې ته راغلی دی دادیوان په ۱۲۷ مخونو کښې په توره کچه سیاهی لیکلی شوی دی او له دې کبله په اوبو ددې دیوان حرفونه خراب شوی دی په دې دیوان کښې ددې دیوان دلیکونکی کوم نوم او نښان هم نشته .

دسرشاه سلیمان اصل استو ګنځی دسید محمد جون پوری وطن جون پوردی ، سیدمحمد جون پوری دخپل وخت یو ډېرلوی عالم اومجاهد تېر شوی دی دی په هند کښې ډېر خلك د خپل وخت امام مهدی ګڼی ، دده د پیروانو شمېر په حیدر آباد دکن او د ګجرات

دعلاقې په (کاټهیا واړ) کښې ډېرزیات دی په خپله د مولانا سید محمد جونپوری قبر دافغانستان په فراه نومی ځای کښې دی، سر سید شاه سلیمان داله آباد د هایکورټ جج هم پاتی شوی دی او دسریم کورټ جج هم.

لنډه داچه له دې قلمی نسخو څخه دا حقیقت څرګندیږی چه دهندوستان پیاوړو پوهانو اومشهورو خلکوهم دپښتو دشعراوادب سره دژوندانه تروروستی برخې پوری ډېره مینه لرله او دهمدغی مینی تاثیرؤ چه زن دغه کتابخانه په ډېرو پښتو قلمی کتابونو ښکلې کړای شوې ده.



دعلم ا للغت له کتاب نه :

دوکتور علی عبدالواحد وافی
تالیف .

دښاغلی سیفی اخیستنه :

اساسی ادبی عوامل

دژ بې په ژوندانه او تطور کښې دد وی تاثیر
په تیره بیاد ژ بې په لیکنه او رسم کښې
دتجدید او لغوی څېړنو اود تالیف
او ترجمې د حرکت اود ژ بې
دتعلیم په وسایلو کښې

✡ ✡ ✡

داټول هغه شیا ن دی چه افراد اوټولنې ورڅخه دژ بې په تکمیل او دهغې د آثا رو د تد وین او په تالیف او ترجمه کښې کار اخلی اوله دې شیا نو څخه په کار اخیستلو اودعلمی اوادبی آثارو په تدوین او نورو کښې ورڅخه ګټه اخلی .

اول ـ لیکنه اورسم :

دپو هانو دانظریه ده چه په انسانانو کښې ډېر لږ شمېر خلکو دژ بې دپاره خطدرلود مګر ډېر وخلکو دخپلوژ بو دپاره مخصوص رسم خط

نه‌در لوداو یوازې دخبرو په ذریعهٔ ژبه ساتله او دوی داعقیده لرله چه دژبې دژوندانه اساسی شرط خبرې دی نه لیکنه او رسم :

اوداځکه چه دپرې داسی ژبی شته چه هغه ژوندی پاته دی مگر هغه کوم تحریری سند یعنی خطانه لری، لیکن دایو نا ممکن کار دی چه ژبه دی بې له صوتی مظهر څخه ژوندی پاته شی! لکه چه ددې خبری ښکاره مثال اسپرنتو (Espernato) اودغه راز نوری مصنوعی ژبی دی؛ داخلک په دې عقیده دی چه ترڅوژبه په خولو کښی ځای ونه نیسی او هغه دخلکو دافهام اوتفهیم ذریعه نه شی ترهغې هغه ژوندی نه شی پاته کیدلای، ددې عقیدې په اساس ددې خلکو مفکرینو دې کار ته ملا وتړله چه په ژبه کښی دافهام اوتفهیم دپاره الفاظ اواصوات وضع کړی اودژبی د تعمیم دپاره دخبرو اوینا په سبک کښی اصلاحات وکړی.

مگر ددې خلکو په خلاف د ژوروفکر ونو پیاوړی پوهان په دې عقیده دی چه خط او کتابت دژبی په ژوندانه اوبقا کښی ترانداز ې وتلی گټی لری، دوی وایی چه همداخط اوکتابت دی چه دده په برکت دژبی لغتونه او الفاظ ضبطولای شی او آثاریې تدوین کولای شی او دخلکو افکاراو نظریات ورباندی ثبتولای شی پوهه او معارف ورباندی خپرولای شی اوهمداخط اوکتابت دی چه دده په ذریعه حقایق اوعلوم دیوځای نه بل ځای ته اودیوې زمانې نه بلی زمانې ته نقل کولای شی.

اوهمدا خط اوکتابت دی چه دده په وسیله مونږ دپرومړو اودمنځ نه‌و تلو ژبو څخه لکه سنسکرت اوپخوانی مصری ژبی او اغریقی اولاتینی اوقوطی ژبو په شا اوخواکښی معلومات لاس ته راوستلای شو، او داځکه چه که داخط او کتابت نه وای نومونږ ددې دژبو په

شا اوخوا کښی لیکلی شوی کتیبې کله میندلای شوې اود دوی په خصوص کښی مو کله معلومات لاس ته راوستلای شو او موږ دلغوی تطور مراحل څنګه معلومولای شول. دخط دټولو اسلوبونو اساس چه په زیاتو ژبو کښی ورڅخه کار اخیستل کېږی دوه اسلوبونه دی چه یو ته ئې په اصطلاح کښی د معنوی رسم اسلوب (Ideographie, Ecriture, Idéographque) وایی اوداهغه طریقه ده چه په دې اسلوب او طریقه کښی د هری معنی دپاره یو مخصوص خطی آواز لیکل کېږی اوداطریقه دنړۍ په ډېرو ژبو اوخاص بیا په چینی (۱) اوپخوانۍ مصرۍ ژبه کښی ډېر استعمال شوېده (۲) اوموږ په یقینی ډول دانه شوو یلای چه دا طریقه اول چین استعمال کړې ده او که مصر؛ مګر داخبره په یقینی ډول معلومه ده چه دا اسلوب اوطریقه د پخوانی انسانی خط ډېره زړه اوپخوانۍ طریقه ده.

په دې اسلوب کښی چه له کوموطریقو څخه کار اخیستل کېږی هغه په دوه ډوله دی، اول داچه کله کله انسان دحقیقی شکلونو په ذریعه دخپل عین مطلوب شی تعبیر کوی او کله دمطلوب شی د اجزاؤ څخه لکه چه په هیروغلیفی خط کښی دلمر څخه په یوه داسی دایره تعبیر کېږی چه دهغې په منځ کښی نقط وی اودسپوږمۍ څخه د یو داسی قوس په ذریعه تعبیر کېږی چه په منځ کښی یوه جګه راوتلې برخه لری اودغه

(۱) چینی خط (۲۱٤) اساسی رمزونه لری چه دوی دغو رمزونو ته په خپله اصطلاح کښی مفاتیح ( ) او یا اصول) وائی او هریو رمز په یوه عامه معنی دلالت کوی او دهری مطلوبی معنی دپاره په دغو اصولو یوه یوه کرښه اوخط ورزیاتولای شی.

(۲) پخوانی مصری خط په هیروغلیفی نوم یادیږی اودې خط په مختلفو دورو کښی څلورمرحلې طی کړی دی.

راز دنورو مختلفو شیانو څخه او کله ورڅخه دهغو رمزونو او اشارو په ذریعه تعبیر کیږی چه ددوی په اصطلاح هغه رمزونه ددغو شیانو او معانیو (Symbolisme) څخه د تعبیر دپاره ټاکلی وی لکه چه په هیروغلیفی خط کښی دهلال یعنی میاشتی څخه په یوداسی هلالی خط تعبیر کوی چه دهغې په منځ کښی ستوری وی او دورځی څخه په یوه داسی دایره تعبیر کوی چه په منځ کښی ئې نقطه وی او په چینی خط کښی د انسانیت د معنی څخه په داسی دووکرښو تعبیر کوی چه د هغو څخه د اتو یعنی (۸) شکل جوړیږی، لیکن دخط داډول ډیرزیات نواقص او مشکلات لری یوخو داچه داکار ډیروخت ضایع کوی او په ډیرزیات عمر کښی هم په پوره ډول نه زده کیږی او بل داچه مطلب ورباندی پوره نه شی اداکیدلای او داشیان د نوروژ بو په نسبت په چینی ژبه کښی ډیرزیات دی.

دوهم د صوتی خط (Ecriture Phonétique Phonétisme) هغه طریقه ده چه په هغه کښی دهر آواز دپاره مخصوص شکل ټاکل شوی دی او له دې طریقې څخه د نړۍ ډیر وپخوانو خلکو کار اخیستی دی او اوس همدا طریقه په ډیر ومتمدنو قامونو کښی رواج او عمومیت لری.

په دې خط کښی چه له کومو خطی شکلونو څخه کار اخیستل کیږی هغه په دوه ډوله دی چه یوئې په مقطعیه (Sylladique) او بل ئې په هجائیه (Alphadétique) نوم یادیږی.

د تاریخی پلټنو څخه دا خبره څرګندیږی چه پخوانې مصریان هغه لومړی خلک وو چه د میلاد نه دیرش پیړۍ وړاندې ئې له دواړو طریقو یعنی مقطعی او هیجائی څخه کار واخیست او فنیقیان هغه لومړی خلک دی چه هغوی دخپل مرام د تر سره کولو د پاره یوازی له هیجائی طریقی څخه کار واخیست، اوددې کار سبب هغه مجبوریت

ؤچه‌دوی ته د تجارت اود باندی ملکونو سره د تعلقاتو دخپر یدو په اثر پیښ شوی ؤداهجائی طریقه هغه طریقه‌ده چه‌هم نسبتاً ډیره اسانه اوهم ور باندی کارونه په بیړه او اسانډول اجرا کیږی له همدې فنیقی حروفو څخه پخوانی عربی حروف راوتلی دی او له همدې پخوانو عبری تورو څخه نوی عبری توری چه په:

(عبریته المربعته) (L,hebreu Carre) تورو یادیږی راوتلی دی او داهغه توری دی چه د بابل څخه دراوتلو په وخت کښی ور څخه بنی اسرائیلو کار اخیست اوترنن ورځی پوری ورڅخه کار اخلی.

اوله فنیقی حروفو څخه دوه ډوله نور خطونه راووتل چه نو یو عبری حروفو سره ډیر نژدې شباهت لری چه یو ډول ئې په تدمری او یا بالمیرینی (Palmyrénien) نوم یادیږی او بل ئې په نبطی (Nabateen) نوم یادیږی. وروسته له تدمری خط څخه هغه سریانی خط راووت چه وروسته له دغه خط څخه مغولی خط راووت او ور وسته د نبطی او سریانی خط څخه عربی هجائی حروف راووتل.

دهمدې فنیقی خط څخه آرامی رسم راووت او د آرامی حروفو څخه هندی یعنی باکتریانی (Indo-Bactrien) هغه حروف راووتل چه په شمالی هند کښی ئې رواج درلود اوله همدې حروفو څخه ټول هغه حروف راووتل چه اوس ورڅخه د هند په ټولو ژبو او د سیام (Siam) او کامپدج (Campodge) یعنی چنیی هند او مالیز یا (Malaisie) په ژبو کښی کار اخیستل کیږی.

اوهمدغه راز د فنیقی حروفو څخه اغریقی خط او داغریقی خط څخه لاتینی حروف او د لاتینی او اغریقی خطونو څخه د ډیرو مختلفو هغو ژبو حروف راووتل چه نن د اروپا په ټولو ژبو کښی عمومیت لری.

سره ددې چه لیك او خط ډیری ګټې لری لیکن ځینی هغه خطو نه چه د تلفظ سره مطابقت نه لری لوستو نکو ته ډیر مشکلات پیښوی اوددې کار په اثر د ژبی او خط نه مطابقت زده کوونکی له مشکلاتو سره مخامخ کوی اودا د ژبی دعمومیت مانع کیږی.

او زده کړه ئې ډیر وخت غواړی ، سربیره پردې که د یوې ژبی رسم الخط او تلفظ دواړه یوشان نه شی نو په دې صورت کښی به له یوې خو اړیر خلك ددغی ژبی دعلومو اواد بیاتو او ثقافت څخه پوره ګټه وانه خیستلای شی اودا ځکه چه که یوه ژبه په پخپل پخوانی صوتی شکل ولیکلای شی نو په دې صورت کښی به د لیکلو او محاورې ژبی سره بیلی اوجلا شی اودخط لوستو نکی به دې کار ته اړ او مجبور شی چه پخوانیو لغتونو ته مراجعه وکړی اودا یوه داسی سلسله ده چه انسان به تل دلیکلی رسم الخط او محاورې په چاپیرچل کښی ګیر پاته وی اودا یوداسی مشکل دی چه یوازی پردی له دې سره نه مخامخ کیږی بلکه په خپله دژبی خاوندان هم له دې مشکل څخه بې تاثیره نه شی پاته کیدلای لکه په فرانسوی ژبه کښی د مشدد حرف دا (Savamment) مثال چه پخوا به په مشدد شکل لوستل کیده او وروسته بیا خلکو د دې حرف (Savaman,evidaman) په مخفف لوستلو پیل وکړ مګر سره ددې به هم په نطقونو او وینا ګانو کښی تر څه مودې پوره په مشدد شکل لوستل کیده او څو پیړی وروسته خلکو ددغه حرف په مشدد لوستلو پیل وکړ.

همدغه راز په پخوانیو پیړیو کښی به په فرانسوی ژبه کښې د کلمې په پای کښی ساکن توری د نطق په وخت کښی حذف کولای شول مګر په موجوده وخت کښی دغه توری د خطا بو په وخت کښی نه شی حذف) کولای

لکه (But) مگر اوس ئې ډېر فرانسويان (Bute) لولي.

همدغه مشکلات ووچه دې مشکلاتو د پوهانو فکرونه د رسم الخط د اصلاح خواته راوګرځول او دټولو لومړی په دې لار کښې يونيانو او رومانيانو د رسم الخط د اصلاح په لار کښې د ميلادنه پخوا ځينې قدمونه واخيستل او د نهمې پېړۍ په پای يعنې وروستۍ برخه کښې المانيانو د خپل پخوانی رسم الخط د اسلوب د اصلاح په لاره کښې ځينې اصلاحات وکړل.

په دې لار کښې برازيل، هولاند، انګلستان او د امريکې متحده ايالاتو هم ډېر کوښښونه وکړل مګر پوره نتيجې ته ونه رسيدل د فرانسې اکاديمۍ د فرانسوی سياست مدارانو او پوهانو په مرسته په فرانسوی رسم الخط کښې لازم اصلاحات وکړل.

مګر د پورته نظريا تو په خلاف ډېر پوهان د انظريه لرې چه په رسم الخط کښې ګوتې نه وهل ډېرې زياتې ګټې لرې او د ځکه چه دغه جامد رسم الخط په مختلفو پېړيو کښې د خپل قام نمايندګی کولای شی او ډېر راتلونکې نسلونه د خپلو مشرانو د افکارو او ارشادونو څخه استفاده کولای شی او سر بيره پر دې د ژبو او لغاتو څېړونکې د هغو څخه د قام او ټولنې د ثقافت او کلتور د تشخيص په لار کښې پوره معلومات لاس ته راوستلای شی مګر ځينې پوهان د دې دواړو مفکورو په منځ کښې يوه معتدله او تقريباً طبيعی نظريه په دې ډول وړاندې کوی چه په ژبو کښې د تجديد حرکت يو لازمی کار دی او د دا کار پنځه اساسی عوامل لرې.

۱- دا چه د يوې ژبې ليکوال او اديبان د پر دوژبو د اسلوب د تاثير لاندې راځی او په تيره بيا د پر دوژبو څخه اقتباسونه او ترجمې د ژبې په مفردا تو او مصطلحا تو او پر د وژبو د فکرونو او ادبي

اوعلمی نظر یاتو رانقلول دژبی دلیکلو په نهضت اوتهذیب اود ژبی دعلمی لمنی په پراختیا کښی ښکاره تاثیرلری .

او داځکه چه پوهان اولیکوال دمختلفو ژبو آثار ترجمه کوی او په خپلو لیکونو اوترجمو کښی دهغو د اسلوبونو پیروی کوی او خپلو ژبوته دنورو ژبو څخه ډېر علمی مفردات دخپلو ژبو سره گډوی اوپه دې ترتیب دخپلی ژبی علمی لمن پراخوی اوعلمی ذخیره پکښی ځایوی اوپه ژبه کښی نویو علمی اصطلاحاتو ته ځای ورکوی اود خپلو تالیفاتو اولیکنو په وسیله ټولنو ته نوی فکرونه او نوی معلومات وړاندی کوی .

۲-دژبی پوهان او ادیبان په خپلو لیکنو کښی تل داکوښښ کوی چه د خپلو ژبو مهجور او متروك یعنی ورك لغتونه په خپلو لیکنو کښې بېرته ځای اوراژوندی کړی اوپه دې وسیله هغه بېرته په خلکو کښې ځای پیدا کړی اود خپلو زیارونو اوکړاوونو په مرسته هغه ورکه پانگه بېرته ټولنی ته په لاس ورکړی په دې لړکښی پوهان اولیکوال دې خبرې ته اړکېږی چه هغوی د ژبی دعمومی اصولو دمقرراتو لاندی په اشتقاقی ډول اویادیوې اویاخو کلمو دترکیب په ذریعه اویادنو روژبو څخه دیوې کلمې او حرف په راخیستلو یو نوم او کلمه جوړه اوپه هغې خپل مقصد تر سره کړی لکه (سوسیولوجیا) یعنی علم الاجتماع په دی کلمه کښې «سوسیو» کلمه لاتینی د جمعیت په معنی ده او«لوجیا» یونانی کلمه ده چه معنی ئې مقال، بحث اویاخطبه ده اوهمدغه راز ځینی لغتونه له دروتورو څخه جوړېږی لکه «بیسکلت» یعنی بایسکل په دې کلمو کښې «بې» لاتینی کلمه ده ددوه په معنی او «سیکل» یونانی کلمه ده دارابې

په معنی اود«ات» توری په فرانسوی ژبه کښې د تصغیر علامه ده

۳- دژبی گرامری اولغوی څېړنې اوتالیفونه دی اوداهغه بحثونه دی چه دژبی دبقا، ساتنی او سلامتیا اوابدی بقااودژبی په خواصو اودژبی په تاریخ او آثارویعنی قاموسونو او دایرة المعارفونو اود قواعد ودکتابونو (نحو، صرف، اشتقاق، بیان، بدیع، معانی) اودلغت او تاریخ دادب اودتورود آوازونواو مخرجونو د پېژندلو اودهغو دورو دمعلومولود پاره چه په مختلفو دورو کښې ورڅخه دغه ژبه تېره شوې ده ډېر ګټور وسایل او ذریعې دی.

باید گرانو لوستونکو ته دا حقیقت څرگند کړای شی چه داهغه مهم عوامل دی چه دادژبی دلیك او تلفظ دبقا اودهرډول تحریف څخه د ساتنی اودژبی دتهذیب اوپه صحیح ډول را تلونکی نسل ته دژبی د ورسپارلو د پاره ډېر مهم وسایل دی.

۴- په ژبه کښې دترجمې په ذریعه د مختلفو علمونو او فنونو او معلو ماتو رانه ایستل د ی اودایو ښکاره او منل شو ی حقیقت دی چه بې له دې کار څخه یوه د اسی ژ به چه خط او کتا بت ولری نه ژوندی پاته کېدلای شی او نه په خلکو کښې د هغې لمن خپرېدلای او عمومیت پیدا کولای شی.

۵- اساس چه ډېراهمیت اودژبی په بقا کښې پوره تاثیر لری خپلو کوچنیانو ته دلیك اولوست دود اوهغو ته دسمی املا اوصحیح تلفظ ورښوول اودهغو دژبی په ادب اوسبکونواو قواعدو پوهول دی په داسی ډول چه دغه کارو نه دهغو په زړونو کښې دخپلی ژبی اخترام او خپلی ژبی سره د هغو مینه پیدا کړی باید د د ې مقصد دترسره کولو دپاره په هغو داسی آثاراو مختلف فنون ولوستلای

شی چه دیوې خواژبه په صحیح ډول دهغو په فکرونو کښې نقش شی اوله بلی خوادهغود ژبی سره مینه پیداشی اوپه دې وسیله په هغو کښې ددې خبری قدرت پیداشی چه هغوی د هر راز تعبیردپاره په خپله ژبه کښې یوخوږ اومعقول تعبیر پیداکړای شی .

داهغه مواد دی چه اکثرتدریسی اوتعلیمی ټولنی ددې موادو ډېر مراعات کوی اوددې دپاره چه په کورونو کښې د کوچنیانو مشران یعنی موراوپلار اونورهم دتعلیمی او تدریسی مؤسسوسره په دې لار کښې مرسته وکړای شی پوهانو په دې لار کښې ډېر اسان کتابونه لیکلی او ټولنی ته ئې وړاندی کړی دی .

سید احسان الله «هیر»
دطب د پوهنځی محصل

د تورپیکۍ واده

دزړې سپین سری بوډۍ په بڼه کی د سختې کینې او غم آثار لوستل کیدل. هر چا په بیلو - بیلو رنګو د خپل ذهنیت له مخې د دغې میر منې د ژوندانه په باب قضا وتونه کول ماددې په باره کی له هر-هر چا نه ډیر څه اوریدلی و مګر نن داوږد ولا نجو او کړ او نو میر من زه په خپلو سترګو ونیم. د دغې میرمنې د تندی په هر ګونجی کی دغم او کړاو افسانې پټې دې او تك سپین سر یی د بی ځایه زړیدلو او بی قدره ځوانۍ د یوې لرې ماضی تریخ داستان سړی ته وړاندې کوی. له خپل تور پړونې لاندې ئی خپل پښتنی عصمت او حیا ټینګه ساتلی وه او تور پړونې ئی ډسپیڅلتوب ترجمانی او نمایندګی کوله په پړونی کی پټه وه څه وخت چه زمونږ د کاله په انګړ راننوتله نو ما له خپل کتاب نه سرجګ کړ مو رمی راته غږ کړ چه هغه ښځه چه تا یې پوښتنه کوله دغه ده.

له رواجی ستړی مشی او هر کلې نه وروسته ئی ما ته وویل: «دزړه سره! یه عمر موړشی د خپلی ځوانۍ شه برخه دی نصیب شه زما له ترخو

لانجوا و پیښو نه خوهر څوك خبر دی خو څوك ز ما د ژوند ا نه له یو ې برخې اوڅوك له بلې برخې ستاعمر خوټول په کابل کی تیرشوی دی ته به لږ یازیات خبرئی خو پوره به پوه نه ئې ته چه ددې خبرو او لو یو کشا لو پو ښتنه له ما نه کوې زه به ډیر څه درته و و ا یم خو گوره زلمیه چه ته بیازما له خبر وزړه تنگی نه شې اوزه خوله ډیرو غمو نو زیاتې په ډیرو خبرو کولو مشهوره شوی یم چه ستا سر و نه خو ږوم او... مایی دخبرو سلسله ورپریکړه اوورته می وویل: «ابی! ته له دې خواهیڅ فکر مه کوه زه ستاخبری اورم او ستا دخبرو له اوریدو سره مینه لرم. نه زه ورته زړه تنگوم او نه دادځان سرخوږی بولم.

زړې او زهیری میرمنې یو اوږد ه ساه راښکله ځان ئی خبر و ته برابر کړاو راته وویل چه:

زلمیه، زه ددغو اوږدو کشالو په بیا نولو د ډیر خپگا ن سر ه مخا مخ کیږم. خپل تیر ژوند راته دریږی او بیا ډیره موده خپه یم خو دا ښه ده چه ته ورته غوږ نیسې زه به ئی درته ووایم.



لا کو چنۍ ماشو مه وم او د کلی دماشومانو او همزولو په کتار کی می په کو څو کی لوبی کولې چه یوه اوبل چاور ور ا و چازوی ته وغوښلتم پلار می دیوې کلکې ارادې اومتانت څښتن ؤ هغه خلکو به چه درانگ درخواستو نه زما پلار ته کول نو پلار به می ددغو خلکو په زهنیت پورې وخندل او بیا به ئی دغه رار خلکو ته وویل چه: «تاسو سر ه دخویندو لو ښو په برخه کی هیڅ اجتماعی افکار نه پیدا کیږی دامهمه نه ده چه په ماخدای لورینه کړې او زه دیو څه شتو اوسرمایې خاوند یم. زه پو هیږم چه تاسو زما لور زمادنامه دپاره غواړئ

او که نه په اولس کی پیغلی شته او زما لور خولا شپږ اوه کلنه ما شومه ده زه د معنویت او معنی دنیا ته په لوړ نظر او د احترام په سترګه ګورم .زما لور باید څه ولولې .څه یاد کړی او هغه وخت چه د پیغلتوب او ځوانۍ دورې ته ورسیږی نو واده به ئی اجباری نه بلکه دیوه ذوق او انتخاب له مخه وی .»

مګر زلمیه ! د ټولنې له خلکو سره کله مفکوره پیدا کیدله سره ددې چه پلار می څو کسو ته په دغه لړ کی څو- څو ځلی ځوابونه ورکړل مګر دغه زما دغو ښتنو او طلبګارۍ سلسه تر هغې پوری چه بیا زما پلار ژوندی ؤ جاری پاتې شوه .

چه د اووکلو شوم پلار می په یو خاص ذوق درس ته کینولم او راته ئی وویل چه:

« زما ګرانې لورې تورپیکۍ ! ته او ورور دې معصوم ما ته بیل قدر لری ء او تاسو دخپلی مورد وه ډیر دقدر وړ یادګارونه یی چه هغې ځوانې مرګې ما ته له خپل مرګ نه وروسته په یادګار کی پرې ایښی یې ... پلار ته به می زما دمور په یادولو دژړاغریو پیداشو په ستونی کی به یی ژړاغوټه شوه او ستونی به ئی راډک شو خبره به تری ورکه ورکه شوه . داعصابو کنترول به ئی بایلو دمګر له ډیر ځنډ نه- وروسته به ئی بیا ما ته مخ راواړاوه چه: تورپیکۍ ! ته خفه نه شی مقصد می دادی چه دمور دمرګ نه دې وروسته ما خپل ټول ژوند تاسو دواړو ته وقف کړ . هیڅ می دبل واده فکرونه کړ او دا تش په دې نیت او اراده چه تاسو خوار نه شیء ته او معصوم ما ته ډیر ګران یی دهمدې د پاره معصوم تا نه یو کال مشر ؤ هغه مې پروسږ کال په مکتب کی واچاوه او ته دادې سږ کال اوه کلنه شوې باید تا هم په درس کیښنوم . ګوره

زما گرانې لورې ته به دې له خپلو سبقو سره ډیره مینه ساتی.»
وړه ماشو مه وم او د خپل پلار په دې خبرو هیڅ دومره نه پوهیدم.
مگر درالویدو سره به لږ- لږ د دغو خبرو پته راته ښکاریده.
دخصوصی ښوونکی زیات زیار او زما د پلار خپل ذوق او تشویق زما په روزنه کښی تاثیر درلود.
زما پلار زما له درس سره ډیره علاقه درلوده او زمونږ دزده کړې اور وزلو یې ډیر خیال ساته خو بیا هم یو نه هیریدونکی درد ور سرؤ چه زمونږ د درس په شاوخوا کی به ئی لږ صحبت او خبرې کولای شوې او هر وخت چه به ئی خبرې راواخستې نو زمونږ د درس په خبر وخبرو کی به ترې اصلی موضوع پاتی شوه او بلې خواته به لاړ دمور مرگ به می وریا دشو او مونږ ته به ئی ویل چه: «گرانو بچو! تاسو پوهیږی ء چه ماته تاسو څومره گران ئې. همدغه ستاسو گرانښت ؤ چه ما ته ئی اجازه رانه کړه چه زه بل واده وکړم او که نه ما ډیر شته او جایداد درلود په اولس او کلی کی دیوه شته من سړی په صفت راته گوته نیول کیږې ډیر وخلکو ماته د بلې ښځی کولو او بل واده در خواستونه وکړل مگر زه پوهیدم چه که زه بل واده وکړم تاسو به خوار شیء او ستاسو په خوارید لو به ستاسو دځوانی مرگې مور هغه روح چه ماته ډیر قدر لری ناآرامه وی»
پلار به می همیشه مونږ په دغه شان نازولو او زمونږ د لوئیدو په په امید او هیله به ئی شپې او ورځې سبا کولې.
زما زده کړې او درس ذهنیتونه بدل کړل او هغو خلکو چه زما طلبگاری او غوښتنه به ئې کوله زما غوښتنه پرېښوده او د دوی په ځای ډیر نور خلك پیدا شول چه د پوهې او زده کړې په قدر پوه

ؤ او زمادپلار ثروت او هستی ئی هم لیدله نو هغوی زما طلبگاری شروع کړه . له دې کبله چه پلار می ما اومعصوم ته دیوې افراطی مینې په نظر کتل او تل به ئی مو نږ په ناز ـ ناز را لویو لو مو نږ ته په ژوند کی د بی موری هیڅ رنګ نیمګړتیا ښکاره نه شوه . او هیڅ په دې ونه پوهیدو چه آیادمورموجودیت د انسان په ژوند کی کوم اثر لری که نه ؟

مګر زلمیه ! زمانه په خپلو تیرویدو کی د انسانانو په څېر دخپل تېر ژوند پیروی نه کوی زمونږ د ژوندانه دغه د هوسایی ء او آرام دوره لکه دسترګو په رپ او یا یوه خوب غوندې تیره شوه اوله دغه وخت نه وروسته ما بیا په دې لویه فضا او د خدای په لویه دنیا کی داسې ساه نه ده راښکلی چه خوښی ترې محسوسه کړم بلکه هره خاطره مې د زهرونه ترخه ده .

د پسرلی وروستی ورځې وې او داوړی د راتلو سره ـ سره هوا مخ په تودیدو وه په همدغو شپو ورځو کی زما پلار ته سخته رنځورتیا پیدا شوه چه هره ورځ به ئې له بلې ورځی ناروغتیا زیاتیدله د ناروغتیا په لومړیو ورځو کی ئی په خپله رنځورتیا څه پروا نه کوله او خپله ناروغتیا ئی بی اهمیته ګڼله خو دمو دې په زیاتیدو ورو ـ ورو زما له پلار سره دا فکر پیدا شوچه بایدځان له معالجې لاندې ونیسی . خو څه وخت چه ئی ډاکتر ته رجوع وکړه هغوی له تشخیص نه وروسته ورته دا لار ښوونه وکړه چه که تاسو ځان په کوم یوه روغتون کی بستری کړئ بده به نه وی .

د معالج ډاکتر په لارښونه زما پلار په یوه روغتون کی بستری شو زما ورور معصوم او تره می هره ورځ به ددوی پوښتنی ته

ورتلل . له دوؤ یا دریو ورځو ورسته به زه هم روغتون ته ورتلم مگر د نا امیدۍ توره تیاره به مې په زړه را خپره شوه . د خپل پلار کمزوری وجود ته به مې چه کتل نو خوښی مې په خپگان بدلیدله . مگر زمونږ کړ او او بد مرغی په همدغه ځای تمامه نه شوه او ورو ـ ورو زمونږ دژوندانه په آسمان کی د بدمرغۍ تورووریځو څرخونه وخوړل . او دغه د بد مرغۍ وریځی دومره ژر زمونږ د هستیء په افق کی را تاوی شوې چه په څو ورځو کی یی زمونږ د سعادت لمر او رڼا له نظر نه غائبه کړه .

هغه سهار مې په خپل ژوندانه کی هیڅ نه هیریږی چه تره مې زمونږ کور ته راغی او زمونږ د کور له خدمتگارې او نوکر سره خبرې ئې وکړې ما که هر څو د کور له خدمتگارې پوښتنه وکړه چه کاکا مې څه وویلی مگر د کور ابی راته جواب رانه کړ دومره ئې راته وویلې چه لورې ته دې کتاب لوله او مطالعه کوه ماته دې کاکا د کور په حقله تاکیدونه وکړل .

خو لا ډیر وخت نه ؤ تیر شوی چه زما د پلار جنازه ئې په کور رانویستله او د گڼو خپلوانو بهیر ورپسی ؤ . زما ورور معصوم خپل مخ په څپیړو واهه کاکامی ځان د زمکی ـ زمکی ویشته مگر گڼو خپلوانو به معصوم له لاس نه ونیو لو او ورته به ئې ویل چه :

معصوم جانه ! په خپلی ځوانۍ او زلمیتوب رحم وکړه د پلار مور مرگ سړی ته میراث وی . مگر دهمدغو خبرو په زوگ ، غم لړلی ساعت کی زه نوره په ځان پوه نه شوم چه په ما څه تیر شول ډیر ځله به د ژړا په منځ کی راته کمزور تیا او بی هوشی پیدا شوه خپله هستی او موجودیت به راته بدوبریښیدا او ډیر ـ ډیر مې وژړل

خودا ساعت هم تیر شو .

د پلار له مرګ نه وروسته تره مې راته وویل چه که تاسو زما کور ته راشیء زبه ډیر خوشاله شم مګر ورورو مې (معصوم) ورته وویل چه نه کاکا جان تاسو دې خدای ژوندی لری . تاسو مونږ ته د پلار نه کم نه ئې مګر زه غواړم چه د پلار کور موتش اوخالی پاتې نه شی .

مونږ په خپل کورکې خپل ژوند شروع کړ خو معصوم له ډیر کوچینی والی نه په خرابو او عبثو کار پیل وکړ . دده ملګری او ناستې خلك بې تجربې ځوانان او ناپوه خلك ؤ په لږ وخت کې ئې د پلار دجایداد په خرڅولو پیل وکړ . تره به مې کورته راغی معصوم ته به یې سر سر تور کړ چه معصوم جانه ! دخدای دپاره دا کارونه مه کوه په خوشی خوشی کارونو به دی ځان برباد کړی . د پلار روح به دې ناآرامه وی او زه هم در باندې ډیر خفه کیږم . مګر معصوم دا خبرې چیری منلی زمونږ بد مرغی له هماغه ځایه شروع شوی وه چه پلار مې خدای (ج) له مونږ نه واخیست سره ددې چه زه لا دیوی پخې تجربې خاونده نه وم خو بیا به مې هم هر وخت عزرونه او زاری ورته کولې چه ګوره بیا به ددې ورځې ارمان وکړې په حجرو او دیرو خپله هستی او جایدادمه برباد وه . مګر په معصوم دغو خبرو چیری تاثیر کاوه بالاخره هغه ورځ هم راغله چه تره مې د خپل رحم او عاطفی له مخې معصوم ته سختې وویلې او معصوم ئې هم په مقابل کې اطاعت ونه کړ او سره سخت جنګ یې وکړ زه ددوی په منځ کې شوم . کاکا مې معصوم ته مخ راواړوه او ورته ئې وویل چه که اوس د تور پیکۍ لحاظ نه وای ما به تا سره کتلی وای تا نه خو بالکل سړیتوب تللی دی .

په همدغه وخت کې داسحق پلار په کلي او کور کې ورو ـ دا آوازه خپره کړه چه زه تو رپیکی خپل زوی اسحق ته غواړم . څه وخت چه دغه آوازه په کلي کې مخ په خپریدو شوه نو ګڼو دوستانو زما ورور ته وویل چه: معصوم جا نه ؟ ګوره فکر دې وی داسحق پلار تل ویلی دی چه که زه ژوندی وم خپل انتقامونه به حتماً د خالد نه اخلم او که دې بیا نه وی نو اولاد نه به ئی انتقام اخلم اوس چه ستاسو پلار (خالد) له دنیا نه تللی دی نو ته خامخا کوشش وکړه چه خور دې باید دده زوی ته ورنه کړی او که نه هغه ډیر بی ایمانه سړی دی خپل زوی ته به بله ښځه وکړی او ستاسو د پلار انتقام به بیا دیوې بیګناه پیغلی نه کاږی مګر په معصوم دغو خبرو تاثیر نه کاوه کله چه تره می پوه شو چه معصوم داسحق له پلار سره زما په ورکړه کی موافقه لری. نو بیا زمونږ کور ته راغی او په دې دودئی معصوم سره خبری شروع کړې چه: «ګوره معصوم جانه! ماخوله ځان سره دافرض کړې وه ترڅو چه زه ژوندی یم او ته ژوندی ئې زه به بیا ستا مخ ونه ګورم او ته زما مګر تا ته به داخبره دیوه زلمی په صفت معلومیدای شی چه ما په ځان باندې څومره زور کړی دی چه بیا می ستاسو ترکوره ځان رامجبور کړی دی اوز مادغه راتګ ځا نته سبب لری »

په همدغه وخت کې معصوم په یوه غیر مهذبه لهجه په داسی حال کی چه ستر ګی ئی بلی خواته اړولی وی پوښتنه وکړه چه: ښه وایه څه سبب ؟

کاکامې ورته وویل چه: ګوره معصوم جانه! ته له موره کوچنی پاتی شوی څومره چه دې په پلار ګران وې په ماهم ګران وې. او ښه

دې په یاددی چه ماستا د پلار له لویې سرمایې کومه استفاده هم نه ده کړې .
پلار چه دې مړشو بیا هم ته دومره لوی نه وی په وار وار می در ته زاری
وکړې سرمې در ته سر تور کړچه خپل جایداد او هستی په دیر واو حجرو
مه بر بادوه مگر په تائی تاثیر ونه کړ تر خو دی ځای ته راورسیدلې
چه اوس خپله محتاج ئی . اوس زه دغه دی تا ته راغلی یم تره دی
یم او که تره می نه گڼې نو درنه مشر خویم دیوه مشر په صفت در ته
په دې برخه کی توصیه کوم چه گوره تورپیکی اسحق ته ور نه
کړی . د پلار وصیت خودې یووار را یاد کړه که نور خوك نه ؤ نو زه
او ته خو د ژوندانه ترور وستیو شیبو ورته ناست ؤ تا ته خوئې همدا
وویل چه گوره دا براهیم نه به ځان ساتی ډیر بد سړی دی همیشه دا انتقام
په فکر کی دی . سره ددی چه ماله ده سره کوم بد هم نه دی کړی مگر یوه
ضرری طبع لری نو تاسو تری باید ځانو نه وساتی » نو که ته اوس د پلار
وصیت هیر کړی او تورپیکی دده زوی اسحق ته ور کړی نو ما ته بیا ابراهیم
معلوم دی چه څه چالو نه ئی زده دی ، دی به بیا په دې هم افتخار کوی
چه ستا خورد یوه ترخه ژوندانه سره مخامخ کړی . نو په ما تورپیکی
ډیره گرانه ده . ته اول د خپل پلار د روح او بیا زما د مشری لحاظ
وکړه او که زما مشری او تره توب هیڅ نه منی نو کم تر کمه د پلار
د روح احترامه دې وکړه او دغه کار ته باید اقدام ونه کړې . »

مگر معصوم د دغو ټولو خبرو په ځواب کی وویل چه : په دې
برخه کښی زه د خوښې خاوندیم زما خپله خورده هر چا ته می چه زړه
وی هغه ته ئی ورکوم په دې برخه کښی زما په ارادو څوك لوبې نه شی
کولای . »

تره می له ډیرې غصې سره ورته وویل چه : دا که ستا په ارادو

څوك او بې نه شي کولای نو ته هم باید د نورو په ژوند انه لو بې ونه کړې . که خپلې ارادې ته په درنه ستر ګه ګوری نو د نورو ژوند ته خو هم په څه قدر او ارزښت قایل شه ، که خپله خبره د کانې کر ښه ګڼې نو څه خودې ته هم متوجه شه چه نور څوك څه وایې ؟؟؟ »

مګر د معصوم غوږ ونه د غو خبرو چیر ته خلا صولی شول . بیائی زما د تره د خبرو په ځواب کښې و ویل چه : « دا په ما پوری اړه لری چه که د چاژوند ته د قدر او ارزښت په نظر ګورم یا نه ګورم »

تره مې زمو نږ له کو ره ډیر خپه رخصت شو . په حقیقت کښې تر دې وخته پورې معصوم زمونږ د تره نه و یریده او اوس چه ئې په دې برخه کښې یو ځل بیا دی خپه کړ نو کلك تصمیم ئې و نیو چه باید خپله اراده تر سره کړی نو له دې کبله ئې له ما نه پوښتنه و کړه چه : تور پیکی ! ته خو په دې پوهیږې چه تر ه د سړی د ښمن وی ته د تره خبرې په غوږ کښې مه نیسه بلکه په خپله اراده ووایه چه ته په دې خبره کښې څه وائې ؟

ما ورته وویل چه : ګوره ته زما مشر ور ور ئې او په پښتنو کښې دا دود دی چه د پلار د مرګ نه وروسته مشر ور ور د سړی د واك اختیار خاوند وی له یوې خواخو یوازې توب او ډیر وغمو نو زما روح د و مره زپلی دی چه هیڅ نه واده ته اماده یم او نه چا ته نیکمرغی برابرولی شم او که فرضاً بیا په دې برخه کښې ستاد خپلو ارادو پوره کیدل مطلب وی نو بیا خو خلك ډیر دی . زمونږ خو اوس هغه پخوا نی ژوند هم نه دی . اوس مونږ ډیر غریب شوی یو او ابراهیم نوی دولت ته رسیدلی دی او ډیره هستی او دنیائی پیدا کړې ده نو که دا نوری خبرې ټولی د پښتو لا ندی کړو ، د پلار وصیت هېر کړو . د تره

خپګان ته هیڅ اهمیت ورنکړو نو دې ته خو باید ځیر شو چه دغسی کسان اوس په اولس کښی ځان غټان بولی او بیا به زمونږ ټولی آرزوګانې او غو ښتنی د خپلو خواهشاتو نه قربانوی نو که ته چیرې دې خبری ته اقدام ونه کړې ډیره به ښه وی .

معصوم زما ددغو خبرو په مقابل کښی چپ شو خو لادوه یادرې ورځی نه وی تیرې چه زمونږ کور ته ابراهیم دخپل زوی (اسحق) دپاره زما دغو ښتلو یوه لویه جرګه راولیږله . معصوم لادوخته ددوی سره خبره غوټه کړې وه لاڅوشیبی نه وی تېری چه دټوپکو د ډزو په واسطه ئی زما ورکړه اعلان کړه مګر زلمیه ! باور وکړه چه دغه ډزی زما دیوه تریخ مستقبل اعلان ؤ او ما ګمان کاوه چه دغه هر ډز زما په زړه باندی یو ګوزار دی معصوم چه دجرګی نه وروسته کور ته راننووت نو ما ته ئی وویل چه : تور پیکۍ ! څه وکرم زه مجبور وم په دیره کښی راته جرګه کښیناستله اوزه مجبور شوم .

مګر ما ته دغه ټولی خبری ماشو ما نه ښکاریدې اوزه پوهیدم چه معصوم په دې برخه کښی دخپلو آرزوګانو دپاره زما په ژوندلو بې وکړې څه وخت چه زما هو که داسحق په نامه ورکړه شوه بیاله دې ورځې وروسته هیچا زما پوښتنه هم و نه کړه . معصوم ته ددېرو او حجرو خرڅو نه عادت ګرځیدلی ؤ . په لږ وخت کی ئی ځان دجومات لرګی کړ او نور هیڅ ورپاتې نه شول . څو میاشتی لازما داهو کی ، داسحق په نامه نه وی تیری چه ابرهیم دډیر وپیسو په لګښت دیوې سرمایه دارې کونډې لور چه ښار ونومیدله خپل زوی ته په نامه کړه

زلمیه ! لاتر دې وخته هم ما دپیغلتوب په نړۍ کی دآرزوګانو ماڼۍ جوړولی مګر څه وخت چه می داسحق دنوی کوژدن واوریدل

نو بالکل دناامیدی یوه توره څپه زما په زړه راخپره شوه. په کلی او اولس کی معصوم ته هرچا دملا متی گوته نیوله اوپه ابرهیم ئې بد ویل.

مالا په کور کی دخپلو نامراد یوفکرو نه کول اوداسحق دنوې کوژ دې له غموسره می مشغولاوه چه په کلی او کور کی اوازه شوه چه ابر هیم د خپل زوی (اسحق) دو اده ترتیبات نیسی په ډیرو لگښتونو دواده دپاره لوړتر تیبات نیول شوی ؤاوو اده شروع شو دواده سازونو زمادپیغلتوب دژوندانه ناکامی اعلان کړه. له لرې به چه زمونږ کورته دسازونو اوسند روغږ راته نوما به خیال کاوه چه زماد نامرادی اوبدمرغی ویرونه کوی. دگڼوخلکو په مخ کی به ابراهیم داخبرې کولې چه ماخو خپل کاروکړ. خالد چه ژو ندی ؤ نو زما په خورئې کبرونه وکړل اوپه ډیر ولوړو شرایطو ئی دمعصوم مورو کړه اوس ماهم دده لور دخپل زوی په نامه بنده کړه اودخپل زوی واده می په لوړو ترتیباتو ونیو دغه واده خلاص شو او د ښارو ډولی یی دټوپکو په ډزو دابرهیم کورته ور وړه.

زلمیه! بیا کلونه ووتل او زمادواده دپاره هیچا کوم فکر نه کاوه. اوهغه وخت راغی چه زه نوره دخپلو جامو اونورواحتیاجاتو دپاره مجبوره شوم تره می زمونږ کره هیڅ نه راتلو اود معصوم نه سخت حفه ؤ مگر څه وخت چه زه مجبوره شوم نو تره ته می ځواب ولیږه چه باید یووار زما کتلو ته راشی. څه وخت چه تره می زمونږ کورته راغی او زه ئی ولیدم نو په لپو-لپو ئې راته وژړل اووې ویل چه نور نو معصوم ته نه گورم معصوم که سړی وای دادو مره کارونه به ئی سم وؤ. نوره داجازې خبره نه ده پاتی زه به ددې دپاره چه ستاژوندسم تیرشی

تاخپل کورته بوځم. ماو رسره ومنله اوله دې کبله چه معصوم به په مودو، مودو په کور کی نه ؤ دیوه اوبل په حجرو کی به ئی شپی سبا کولی نو ما دخپل کور دروازه دلومړی ځل دپاره وتړله. په ژړامی خپل لوی کور چه نوره دژوند انه او خوښی رڼا پکی نه وه پاتی پرېښود اوزه دخپل تره سره ددوی کورته ورغلم. په لومړی سر کی خوزما دکاکا ښځی اود دوی نورو اولا دو زما ښه هر کلی وکړ مگر هغه وروستی کړاو نه اوسختی چه بیاما دخپل تره ښځی نه ولیدلې هغه زه دهغې مینې په احترم چه کاکامی له ماسره لرله هیچا ته نه وایم.

دتره کره چه زما څومیاشتې تیرې شوی نو معصوم له کومی خوا راپید اشو. دی دتره سره خو نه شو مخامخ کیدلای اونه دده کورته راتلای شو نو ما ته ئی ځواب راولیږه چه ته ولی بی زما له اجازې دتره کورته تللی ئې. خوداهغه خت ؤ چه ماورته دالا ندې څو کرښی خط ولیږه چه :

ورو ره! زه ستا بی ځایه کار ونو نوره انسانیت ته بد بینه کړی یم ته لااوس هم خپلو کارونو نادم کړی نه ئی ته نه زما نور دواک اختیار خاوند ئی اونه زه ستا کتلو ته وزگاره یم. زه څه بیگانه انسان کره نه یم تللی چه له تادې اجازه واخلم او که زه دکور نۍ لوی نامه اود پښتو نوالې پت ته ونه گورم نو بیگانه کره د تللو حق هم لرم او ته بیا ما ته څه نه شې ویلای. ځکه تادیوه مشر په صفت دکور صحیح اداره ونه کړای شوه. دپلار نوم دې ونه شو ساتلای او نه دې دپلار جاید ادنه په سمه لار کی استفاده وکړه. زه نوره دتره کره اوسیږم او ته چه هر ځای کی ئی هلته اوسه.

: لیکه ما چه په دغه مضمون باندې معصوم ته خط ولیږه بیا له دی وروسته

پوه نه شوم چه معصوم څه شو له هغه وخت نه اوس ډیر کلونه تیر شوی دی مگر د معصوم صحیح پته نه ده معلومه، ځینی خلك یو څه، ځینی ... وائی خو هیچا ته ئی پوره پته نه ده معلومه.

زلمیه: د تره په کورکی هم زما څو کاله د ناښادې ځوانۍ او د پیغلتوب د ژوندانه تریخ عمر تیر شو. او هغه ورځ راغله چه د اسحق پلار (ابراهیم) مړ شو. اسحق د خپل پلار له مرگ نه وروسته دا اراده وکړه چه باید ما واده کړی مگر تره می ورته ځواب ولیږه چه په دې خبرو پسی مه گرځه. تور پیکۍ به د خپل ورور د ناپوهۍ په جرم تر ډیر ومودو د پیغلتوب ژوند تیروی او زما په کورکی به سر سپینوی. مگر اسحق دا خبره نه شوه منلای او لکه چه ما بیا له سره غواړی تره ته می جرگی او د کلی مخور راو لیږل تره می مجبور شو او زما واده ئی جوړ کړ، مگر دا واده څه واده ؤ زما د غمونو او کړاو نو د پاره یو نوی قدم اخیستل ؤ څه وخت چه زما واده جوړ شو نو دې واده دا رنگ یو شکل درلود لکه څوك چه یو ه کونډه ودوی.

زلمیه: په رښتیا چه ما ډیر شیان زغملی شول مگر زما په واده کی ما ته په دومره کمه سترگه کتل ما ته ډیر گران ؤ او ډیره سخته را باندې تیره شوه کاشکی زه د کتاب له مخی سره آشنا نه وای او احساس می نه وای راویښ شوی

له واده وروسته هم ما ته د اسحق په کورکی دیوې خدمتگارې نه په زیات نظر نه کتل کیدل. زما غمونه نور هم پسی زیات شول. اسحق دا وخت د خپلی بلی ښځی ښارونه درې زامن درلودل او په ناز- نازئی لویول مگر ما ته په کورکی دومره نظر هم نه کید چه آیا زه د اسحق د ژوند ملگری او ماینه یم که د اسحق د کاله مزدوره د

په تیر یدلو زمادتره احساس اوعواطف هم کم شوی ؤ شایددده په افکارو دښځی خبری ئی بی تاثیره نه وی هرڅه چه ؤخوله هغې ورځی چه زه ددوی له کوره واده شوم او داسحق کورته لاړم بیا ئې زما هیڅ پوښتنه ونه کړه او دائی هم ونه ویل چه زما له کوره کوم فرد کم شو او که نه نوزلمیه ؟ که رښتیا راباندې وایې په دغه ژوندانه کی زه نوره دومره تنگه شوم او دومره غمو راباندې زور وکړ چه نوره هره ګړی اوهره شیبه دمرګ په انتظار کښې وم. دغه وخت هم په ما تیریده مگر ډیر اوږد شو داسحق په کورکی زما څلور کاله وو تل مگر دومره چا زما پوښتنه ونه کړه چه آیازه مړه یم که ژوندی خو دغه دڅلور وکالو په موده کی زه داسحق په کورکی دومره په تنگ شوم او دومره غمو راباندې زور وکړ چه دهماغه تره کور چه ما پکی غمو نه لیدلی وو او له واده وروسته ئې هیڅ زما پوښتنه نه وه کړې راته د خپلو آرزو ګانو بهشت ښکاره شو. او بیا می دا اراده وکړه چه باید خو ورځی داسحق دکورله غم لړلې فضا نه ستر ګې پناه کړم. او دخدای په دې لو یه دنیا کی نوره هیڅ پناګاه او د سرسیوری ماو نه لیده چه زه ورشم نو له دې کبله می بیا دتره کورته خپل زړه ښه کړ. څه وخت چه می داسحق نه دتره کره دخو ورځو تللو دپاره اجازه وغوښته نو ما ته ئی وویل چه دلته دې زما په کورکی څه وکړل تل لکه دغم غونډی غوندې ناسته ئی زه خوشحاله یم چه ته کوم ځای پیدا کړې او زما له ستر ګو پناه شې.

زلمیه: داسحق ددغه تریخ ځواب او هغه قضاوت په مقابل کې چه انسانیت تری شرمیده بیا هم ما د ځواب حق نه درلود او مجبور وم چه باید چپ پاتې وای.

دتره کورته ورغلم یوازې دتره په کورکی کاکامی زما هر کلی وکړ نور دکور اعضاؤ هیچار اسره خبرې هم ونه کړې. ماخپل ترته گیله شروع کړه چه: کاکاجان! تاسو خو زه بلکل په مړوو شمیرلم او زما پوښتنه هم بیا تاسو ونه کړه، زه بې له تاسو نور څوك لرم چه زما پوښتنه وکړی. مگر کاکامې ماته زما دخبرو په مقابل کی وویل چه: تور پیکی! دگیلې حق خو زه لرم ماستاله ژوندانه سره سم تاسره دپلار نه کمه رویه نه ده کړې مگر ته چه بیا واده شوې زمونږ کورته دې مخ هم راوانه ړاو او هیڅ دې بیا مونږ په یاد هم نه شو.

ماورته په ځواب کی وویل چه کاکا جان! زه دا حق لرم چه باید تاسو ته ووایم چه ستاسو قضاوت په یوه انصاف نه دی بناء او نه دحق دپاره خبره کوی ء. ځکه داخو تاسو ته معلومه ده چه څوك چه خور او لور واده کړی نو بیائی دپلار کور خبر اخلی له مانه خو مور پلار خدای واخستل ورورخو ژوندی ورك شو او یوازې زه غمو ته پاتی شوم. زه خو له هماغې ورځی له بد مرغۍ او کړاو ونو سره مخامخ شوم چه خدای پلار رانه واخست نو تاسو څنگه بیا داوایی ء چه ته واده شوې بیا دی مونږ ته مخ هم روانه ړاوه آیا که څوك کونډه هم له کوره واده کړی یو ځل به ئې خبر وانه خلی؟ خو زه ډیره کم نصیبه وم ما خود دخپل ژوندانه اسره تاسو ګڼلی خو چه تاسو هم ځواب راکړ په خپله به دخپل ژوندانه فکر کوم. کاکامې زما ددغو خبرو په مقابل کی چپ پاتې شو او هیڅ ئی ونه ویل خو دا وخت هغه خدای چه له ډیرو سختیو ورورسته آسانی راولی زما دپاره لږ څه د ژوندون لار خلاصه کړه او خپل ژوندانه ته امید واره شوم او له ځان سره مې فکر وکړ چه که زه

بیرته دخپل پلار لوی کور خلاص کړم او دکلو هغو نجونوته چه له یوه او بل سره درسونه وایی درس ورکړم نو دخپل ځان گذاره به روانه کړای شم له دغې فکر سره سم می دخپل پلار دکاله پخوانۍ مزدوره راوغوښته په ټول کلی می وگرزوله او ټولوته ئی دا خبر ورکړ چه زه په خپل کور کی دنجونو دپاره یوه مدرسه جوړوم په لږ وخت کی شل ، دیرش نجونی دې ته حاضری شوې چه بایدله ماسره شاگردانې شی . دخپل خدای شکر می وویست او دتره له کوره په داغلی زړه او دغیرت او احساساتو په طوفان کی ووتلم داوخت چه زه خپل کور ته روانه وم نو گمان می کاوه چه زه خپل هر قدم په خپلو ستر گو بدم او ډیر زورئی راکاوه. ځکه خپل پلار او دپلار نازونه را یاد شول . دپلار هغه لویه سرمایه داری او لوی جایداد می ستر گو ته ودریده. له غم زبلی زړه می داسویلو یو طوفانی لوگی راپورته شو .هغه وخت می چه دخپل لوی انکړ دروازه خلاصه کړه نو هغه هم ورځ وه چه په ما تیره شوه ټوله ورځ مـی د خپل تیر ژوندانه په یاد وژړل او چه ښه ستومانه شوم نو بیا می په یوه عالم ستومانۍ کی دکور په سمولو شروع وکړه .

له همدغه وخت نه ورسته اسحق بیا دا پوښتنه هم ونه کړه چه زما ژوند په ده پورې څه اړه لری که نه . لږه مـوده ور وسته پـه خپله کابل ته ولاړ خپل اولادونه ئی دکابل په مکتبونو کی واچول او په هر ترتیب چه وشول خو وئی روزل . مگر له او لا د سر ه ئی هم کوم اجتماعی درد پیدا نه شو او نه یی بیا زما پوښتنه وکړه .

ما خپل ژوند په ډیرو سختو شرائطو کی شروع کړاو ډیرزحمتونه می ولیدل. زماسردغوډیرو غمونو په لږ عمر کـی سپین کړ او بـی

وخته په ځوانۍ کی زړه شوم .

زلمیه ! تا به داسحق نوم اوریدلی وی اوس هم ښه دثروت خاوند دی ډیر شته لری اولادونه ئی له پوهنځیو راوتلی دی او لوی مامورین دی . مگر زه اوس هم دده په نامه ژوند تیروم

کله چه په زړه زهیرې میرمنې خپله قصه تمامه کړه نو ماورته وویل چه : ډیرې درنې او پت منې میرمنې ! زه ستا دژوندانه دغه دزحمتونونه دکی ډرامې ډیر خوا شینی کړم . زه په وطن کی ددغسی کسانو په حال چه گمان کوم په سینه کی یو انسانی زړه او عواطف نه لری له انسانانو لاړ شی او خپل ځای قساوت او بی حمیۍ ته پریږدی .

درنې میرمنې ! په رښتیا چه ته ډیر ترخه خاطرات لرې او په تا ډیر تیری او ظلم شوی دی . (پای)

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
ټیلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دټیلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراک بیه

(په افغانی)

په کابل کښې	۴۰
دهواد په نورو برخو کښې	۴۶
زده کوونکوته نیمه بیه :	
۱- کابل	۲۰
۲- اطراف	۲۳
دباندې ملکو کښې :	۵ امریکایی ډالر
دیوی کښې بیه :	۴

دشپږو میاشتو اشتراک هم منل کیږي
دپښتو ټولنې دجاری حساب نمبر په افغانستان بانک
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۲۱۷۱۷
داشتراک بیه په ادارد کښې هم اخیستل کیږي

(۵۳۵)

پرله پسې کښه

دولتی مطبعه

KABUL

Monthly Journal Of The Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on Literature, Philosophy, Philology, Sociology, Art and re lated fields

1964

President of the Academy Pohand Reshteen
Editor: M. Sidiq Rohi
Co-editor M. Moman Patwal
Address Pashto Academy
Kabul, Afghanistan